ادع الى سبيل ربك بالحكمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتي هي احسن الآية

دعوت

د توحید او جهاد مجله

د افغانستان د جماعة الدعوة الى القرآن و السنة د افکارو خپرونکې



امارتِ اسلامی کنر
درحقیقت مظهر گویای اخلاص مجاهدینِ اهل حدیث
به اسلام وتابعداری کامل شان از نظامِ قرآن وسنّت میباشد

فرمان الهی

بسم الله الرحمن الرحيم

قال الله تعالى: (إن الله اشترى من المؤمنين أنفسهم و أموالهم بأن لهم الجنة يقاتلون في سبيل الله فيقتلون ويقتلون وعداً عليه حقاً في التوراة والإنجيل والقرآن . ومن أوفى بعهده من الله فاستبشروا ببيعكم الذي بايعتم به وذلك هو الفوز العظيم) (التوبة /١١١)

ترجمه : (هرآئینه خداوند از مسلمانان جان ومال شان را بعوض آنکه برای شان بهشت باشد خریده است که در راه خدا جنگ میکنند می کشند و کشته می شوند، وعده ای حقی است بر خدا ، در تورات، انجیل وقرآن، و کیست وفا کننده تر به عهد خویش از خدا پس شادمان باشید به معامله، که کردید به آن و این است پیروزی بزرگ) .

دعوت

د توحید او جهاد مجله

بسم الله الرحمن الرحيم

قل هذه سبيلي ادعو إلى
الله على بصيرة أنا ومن
اتبعني وسبحان الله وما أنا
من المشركين
سورة يوسف (١٠٨)

د امتیاز خاوند: دافغانستان جماعة الدعوة الی القرآن والسنة

مؤسس: امام الجهاد شهید شیخ جمیل الرحمٰن (رحمه الله)

سرپرست: الشیخ سمیع الله

خپرونکی اداره: ددعوت او ارشاد ریاست

پنځم کال - پرله پسي (٢٥ - ٢٦) گڼه -١٤١٣هـ ق کال دجمادي الأول - رمضان میاشتي

دهیئت تحریر تر نظارت لاندی

ددی گڼی مطالب

(عنوان) مخ

* سرمقاله ٢
* دبابری جومات شهادت ٥
* برداشت ٨
* ددین مفهوم ١١
* د بابری جومات د شهادت داستان ١٣
* قصاص د ژوند زیری ١٩
* نوی نړیوال نظام ٢٤
* نصیحت ٢٨
* دوحدت چغه ٢٩
* د اسلامي امت ستونزي او ٣٠
* پیام به برادران ٣٤
* ژورنالیستی درسونه ٣٨
* ستاسو پوښتنی ٤١
* راغلی لیکونه ٤٧

په پاکستان کی د
گډون بیه:
میاشتنی: ١٠کلداری
کلنی: ١٠٠کلداری

په نورو بهرنیو هیوادونوکی د
گډون بیه:
میاشتنی : ٢ امریکائی ډالر
کلنی : ١٠امریکائی ډالر

داخل او په پاکستان کی زمونږ
نماینده گان

په داخل کی: لعل محمد «افسوس»
اسلام آباد: عبدالله
پیښور : غنی الله «مسلم»
لاهور : حماد شاکر
کراچی : چوهدری ظهور احمد
کوټه : عرفان منگل
مظفر آباد: بشیر قریشی

په نورو بهرنیو هیوادونو کی زمونږ
نماینده گان

سعودی عرب : فیضان الله
امریکا : عبدالرحمن احمد
بریطانیا : منور علی
جرمنی : وائی - ایم حمیم
هالیند : عماد الدین بکری اسماعیل

مکاتباتی پته : ، دعوت مجله ، - پوست بکس نمبر ٦١٤ پشاور پاکستان

بانکی حساب : جماعة الد عوة الی القرآن والسنة - اکاونټ نمبر ١٩٤٦٥ -حبیب بینک کینټ - صدر روډ- پشاور.

اسلامي دعوت

اسلامی دعوت یوازی او یوازی د الله تعالی د غوره کړی شوی دین (اسلام) لپاره دی، دقومیت، گوند او لسانی او مذهبی تعصباتو لپاره دعوت اسلامي دعوت نه گڼل کیږی.

ای وروڼو - دگوندونو لپاره ستاسو قربانۍ او سرښندنه د الله تعالی په دربار کی د منلو وړ نه ده او نه دغه قربانی د الله تعالی لپاره ده. نو زما هیله داده چه یوازی د اسلام لپاره دعوت خپور کړی- د الله تعالی لپاره جهاد وکړی او په نړی کی د قرآن سنت د ارتقا لپاره جد و جهد وکړی.

که زمونږ په هیواد کی اسلامي نظام حاکم شی نو دمجاهدینو او شهداو ارمان به سرته ورسیږی او د جهاد هدف او غایه به پوره شي او که اسلامی نظام ټینگ نشی نو ز مونږ د مجاهدینو وینه به بی هدفه توي شي.

زمونږ د ورور گلوی بنسټ «لااله الا الله محمد رسول الله» دی له دی نه زیات مناسب نه ده چه څوك په فخر سره ووائی زه پښتون یم ، زه تاجك یم، زه هزاره یم او بیا خپل قومیت په نورو باندی لوړ بولی او دخپل ملیت د برتری په غرض مبارزه وکړی.

زمونږ دعوت داسلام لپاره دی - قربانی او جهاد مو د اسلام لپاره دی او په دغه لاره کی مو ژوند او مرگ دواړه تل پاتی ویاړ او نیکمرغي ده.

(شهید اسلام امام الجهاد شیخ جمیل الرحمٰن)

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

د اسلام آباد معاهده

زمونږ په گران اسلامی هیواد افغانستان باندی د روسی استعمار بی رحمانه تاړاك كه له یوی خوا په بی وزلو افغانانو باندی د ظلم او بربریت یو نوی مثال په نړۍ كی ټینگ كړ چه د هغه په نتیجه كی په لكونو مسلمانان شهیدان، په لكونو معیوب او ورك شول او په ملیونونو كسان د خپل كور كهول پریښودلو ته اړ شول نو بل خوا د روسی یر غلگرانو په خلاف د مقدس جهاد دغه څوارلس كلنه دوره د آزمیښت د یوی سوزونكی بټۍ په شان زمونږ مسلمان ملت د پولادو نه زیات سخت او د ظلم او وحشت په مقابل كی ئی د جهاد او مبارزی لپاره د جهادی قوت په حیث نړیوالو ته ور وپیژاند، زمونږ مقدس جهاد، زمونږ د تشو لاسو مبارزه او د عصر د طاغوتی طاقت د توپونو او ټینكونو په وړاندی زمونږ سپر شویو سینو، زمونږ د شهیدانو چڼ وڼ ټترونو ، زمونږ د بی اسری یتیمانو اوښكو او د هجرت د سوزونكو خیمو لاندی د ترقیدلو ماشومانو ذگیروو او فریادونو د نړی مظلومو ولسونو ته د آزادۍ او خود ارادیت درس وركړ او دنړۍ په هر گوټ كی د یرغلگرانو او مستبدو حكومتونو په خلاف ولسی مبارزی او تحریكونه را پورته شول.

زمونږ مسلمان ملت د خپل مقدس جهاد په اوږدو كی هر ډول قربانی وركړی او دومره ربړونه ئی وگالل چه ټوله نړۍ ورباندی شاباس او آفرین وائی.

دغه ټولی قربانی، دغه د جهاد په سنگرونو كی خپلی وینی تویول، دغه د هجرت د خیمو سړې او تودې تیرول د یو مقدس هدف لپاره وو او هغه په افغانستان كی د كفری او الحادی حكومتونو را پرزیدل او د قرآن او سنت په اساس د یو بشپړ اسلامي حكومت ټینگول وو.

خو هغه وخت چه په افغانستان كی د روس گوډاگی حكومت د مجاهدینو د قربانیو په نتیجه كی له

پښو وغورزيد او د چارو واگی د جهادی رهبرانو په لاس و رغلی نو زمونږ د مظلوم ملت او ټولې اسلامي نړۍ د هيلو په خلاف زمونږ د هيواد پايتخت يو ځل بيا د جګړې په ډگر بدل شو خو په دغو جګړو کی د مسلمانانو او کفارو سنگرونه نه بلکه مسلمان د مسلمان په مقابل کی او مجاهد د مجاهد په مقابل کی د وسلو په بی دريغه استعمال لاس پورې کړ.

دځه کم يو کال په موده کی دجهاد ارزښتونه او زمونږ د ولس هغه هيلی او آرمانونه چه په خپل هيواد کی ئی د دايمی سولی، امنيت ا واسلامی حکومت د ټينگښت لپاره په زړونو کی روزلی، د ليری ويشتونکو راکټونو په اور کی ايری شوی.

د جهاد رهبرانو، د خپل جهاد اجر او ثواب د اقتدار د څوکۍ د لاسته را وړلو لپاره په خونړۍ جگړه بدل کړ او د خپلو خواهشاتو د پوره کولو لپاره ئی د زرگونو بی وزلو خلکو په کورونو د درنو زهرجنو مرميو باران و وراوه. نن د آسيا زړه يعنی د کابل ښار د بی وزلو خلکو په وينو رنگ دی او داسی يوی کنډوالی ته پاتې کيږی چه شپه او ورځ پکی ژړا او فرياد دی. له دولتي ودانيو، د جوماتو له منارو او دخلکو د کوڅو له ديوالونو څخه د وينو فواری روانی دی. کور په کور ژړا او انگور دي. د خلکو له کورونو څخه هديری جوړی دی. دکونډو او يتيمانو ساړه آهونه او فريادونه آسمان ته رسيږی خو د جگړی دواړه خواوی ددغی ټولی تباهی په وړاندی د مسؤليت هيڅ احساس نه کوی بلکه هر يو ځانته د قانونيت بڼه ورکوی او داسی ښکاره کوی چه گوندی دا ټوله تباهی او قتل عام هم د څوارلس کلن جهاد لړۍ ده.

اوس چه د اسلامي هيوادو د منځگړيتوب په نتيجه کی د جهادی څواکونو تر منځ د اسلام آباد تړون لاسليك شوی. زمونږ زوريدلی ولس چه يوازينی آرزوئی په خپل هيواد کی د سولی، امنيت او اسلامي حکومت ټينگښت دی، د جهادی تنظيمونو تر منځ د معاهدی په باب په شك او تردد کی پروت دی ځکه ټول خلك پوهيږی چه د څوارلسو کالو په اوږدو کی ددوی تر منځ ډير اتحادونه وشول او زياتی معاهدي لاسليك شوی خو هر اتحاد يو نوی تنظيم او هری معاهدی نوی جگړی او اختلاف زيږولی دی. اوس له هر چا سره دا پوښتنه مطرح ده چه آيا د اسلام آباد معاهده به چه د پاکستان او سعودی عربستان په ضمانت د روژی په مبارکه مياشت کی په حرمينو شريفينو کی د سوگندونو نه وروسته لاسليك شوه تطبيق به شی او که نه بيا به د نويو جگړو د پيل سبب شي؟

که خدای مه کړه دا معاهده تطبیق نه شی او جهادی رهبران په کعبه شریفه او مسجد نبوی کی د خپلو سوگندونو او دستخطونو څخه سرو غړوی او بیا په یوه او بله بهانه د جگړې اور بل کړی نو په هیواد کی د سولې د تأمین او د هیواد د اداری په چارو کی به خپله کامله بی کفایتی ثابته کړی او په اسلامي او بین المللی محافلو کی به ئی وقار او عزت له منځه لاړ شی او هر څوك به دا پیغور را کوی چه هغه کسان چه د خپلو مقدساتو احترام نه کوی او په خپلو تعهداتو وفا نه کوي د اسلام لپاره به د کوم خدمت مصدر وگرځی؟

د تنظیمونو مشران باید د الله تعالی په وړاندی خپل مسؤلیتونه په کامل ډول درك کړی او د اقتدار د کرسی د لاسته راوړلو لپاره جگړو او وینو تویولو ته اسلامي او قانونی بڼه ورنه کړی. دوئ باید له ځانه پوښتنه وکړی چه د تیریو کال د جگړو څخه ئی کومه ثمره لاسته ورغلی ده؟ کابل ولی د یو کال را په دیخوا د مقدس جهاد د علمبردارانو د اقتدار غوښتنی د جگړو په اور کی سوزی؟ او‌ه‌نیم لکه خلك ولی د مجاهدینو د اقتدار نه وروسته د کابل له ښار څخه په تیښته مجبور شول؟

تر څو به افغان مظلوم ولس په نورو هیوادو کی د بی عزتی شپی سبا کوی او د گوندی تعصباتو دا تباه کوونکی هیولا به تر څو زمونږ د کړیدلی او ربړیدلی ملت په ستونی پرته وی؟ تر څو به د نورو هیوادو هیئتونه راځی او د مجاهدینو تر منځ به جرگی مرکی کوی او بیا به ئی په زور او جبر ږز بندی ته مجبور وی؟ تر څو به مجاهدین په خپل منځ کی د اداری صلاحیتونو د لاسته راوړلو په سر د زرگونو بی گناه خلکو وینی تویوی او تر څو به د نورو د برچو لاندی د خپل اسلامي او ملی وقار وسله په ځمکه ږدی؟

زمونږ هیله داده چه جهادی قوتونه به د یو بل په خلاف د ناروا جگړی اور بیا تازه نه کړی او د اسلامي اخلاقو په رڼا کی به یو بل ته دوروری لاس ور اوږد کړی.

لکه څنگه چه مو په افغانستان کی د کمونیزم او الحاد نوغی ورك کړ راځی چه د گوندی تعصباتو دا لوی بت هم ډړی وړی کړو او نور ددغه بت له پرستش نه لاس په سر شو او اسلامي او جهادي وروړ-گلوی خپله کړو. دغه عالی هدف ته د رسیدو په هیله

(اداره)

د بابري جومات شهادت او د هند د حکومت مجرمانه رویه

لیونیو افراطي هندوانو بالآخره خپل پلید او ناوړه پلان عملي کړ او بابري جومات ئی شهید کړ، دغه جومات چه دڅلورو پیړیو څخه ئی زیات تاریخي قدامت در لود، د هند په خاوره کی د اسلام یو ځلانده نخښه وه چه افراطي بت پرستو او جاهلو هندوانو د خپل تعصب د ښودلو په غرض وران کړ.

ددی جومات د ورانیدلو مسئله څه ناڅاپی واقعه نه وه، د هغه د ورانیدو پلان افراطي هندي گوندونو او گروپونو دوه کاله پخوا شروع کړی ؤ چه بهارتیه جنتا گوند په هغوی کی مهم رول درلوده او وشواهندو پرشد، را شتر یه سیوك سنگ او نورو فرقه پرستو هندو گروپونو د بهارتیا جنتا گوند حمایت او ملگرتیاهم کوله.

په هغه وخت کی وی، پي، سنگ د هند صدر اعظم ؤ، د هغه په وخت کی هم هندوانو په ډاگه او پوره آزادي.سره دبابري جومات د ورانیدو اعلان وکړ او دخپل دغه ناوړه عزم دعملي کولو لپاره ئی په اقدام لاس پوری کړ پداسي حال کی چه په لکونو هندوان په ایودیا باندي دحملي کولو لپاره تیار ؤ مگر وی، پي، سنگ د فولادي عزم سره دهغوي په مقابل کی ودرید او مقابله ئی وکړه که څه هم هغه پدی مسئله باندی خپل صدارت قرباني کړ خو د لیونیو افراطي هندوانو عزم ئې هم د خاورو سره خاورې کړ.

لیکن نن چه کانگرس «آئي» د اقتدار په ماڼیو باندی قبضه کړیده، دغه گوند نه یوازي دا چه د افراطي هندوانو په مقابل کی ئی وسله په ځمکه ایښي بلکه د هغوي ملا تړی او پلویان هم ښکاره کیدل، د افراطي هندوانو د نفرت نه ډکي قافلي د ټول هند نه په یو بل پسي د ایودیا په لور د خپلو شومو عزایمو سره رواني وی مگر د هند مرکزي حکومت داسي غلي او ناخبره ناست وو لکه چه

بې هوښه وي او يا په هغه کې نه د ليدلو صلاحيت وی او نه د اوريدلو قدرت، د هغه ټول غړي فلج شوي وي او د مرګ حالت پرې راغلي وي.

داتر پرديش د ايالتي حکومت په زړه کې هم هغي آرزو موجونه وهل د کومی لپاره چه دغه دری لکه افراطي هندوان ايوديا ته را په مخه شوی وو، د ايالتي حکومت دغه اسلام دشمني د هغوي هم نظرو افراطي هندوانو ته دا موقع په لاس ورکړه چه د بابري جومات څخه را تاوشي، نه يوازې دا چه د ايالتي حکومت پوليسو ددغو بد خصلتو بت پرستانو او د بابري جومات تر مينځ د ودريدو او يا ديوی فاصلي د پيدا کولو کوشش ونکړ، بلکه د جومات په شهيد کولو کی ئی ورسره په پوره ډول مرسته او کومك وکړ، تر دې چه د اخباری اطلاعاتو او مستندو رپوټونو سره سم ډيرو پوليسو ځوانانو د جومات په ورانولو کی پخپله برخه درلوده. د اتر پرديش آيالتي حکومت او د هند د مرکزي حکومت دی روئی دا په ثبوت رسولي وه چه هغوي د خپلی قانوني او اخلاقي وظيفې د سرته رسولو اهل نه دي هغوي ددې صلاحيت نه محروم دي چه د خپل هيواد د اوسيدونکو سره د انصاف او عدالت د اصولو له مخې رفتار وکړي، هغوي د خپل هيواد د ډير لوی اقليت د مذهبي مرکزونو او عبادتخانو بين المللي قوانين ټوټې ټوټې او تر پښو لاندی کړل او د خپلې بې کفايتي په ثابتولو باندی ئی د تصديق ټاپه ووهله پداسي حال کی چه د اتر پرديش ستري محکمې (هائی کورټ) او د هند عالی محکمی (سپريم کورټ) دا حکم صادر کړی ؤ چه تر هغه وخته پورې چه په عدالت کې د بابري جومات او رام مندر قضيه فيصله شوې نه وي، هيڅوك هم په جومات باندې د حملی کولو حق نه لري، پداسې حال کې چه په هغه ورځو کې د افراطي هندوانو راتګ د ايوديا په لور مخ په زياتيدو ؤ او د هغوي بد نيتو او متعصبو رهبرانو زهرجن بيانات ورکول، نو عدالت فوراً حکومت ته اخطار ورکړ خو ددی ټولو سره سره هندي حکومت په هر څه باندی غوږونه کاڼه کړل.

د هند دمرکزي او ايالتي حکومتونو دا ناوړه رويه هغه وخت نوره هم سخته شوه کله چه د تاريخي تحقيقاتو او واقعاتو په رڼاکی د افراطي هندوانو په دعوه کی يوه ښکاره نيمګړتيا ثابته شوه او هغه دا چه دوي ادعا کوله چه د بابري جومات ځای د هغوی د تش په نوم معبود «رام» دپيدايش ځای دی او دا پخوا د رام مندر ؤ چه بيا دغه مندر وران او په ځای ئی بابري جومات جوړ شويدی. پخپله هندي تاريخ پوهانو او تاريخ ليکونکو د ډيرې ژورې څيړنی څخه وروسته دا ثابته کړيده چه د بابري جومات ځمکه د رام د پيدايش ځای ندی او نه خو په کوم عصر کې پدغه

ځای د رام مندر موجود ؤ، تاریخ، پخوانو آثارو او د ټولنیزو علومو پوهانو او د هند تاریخ پوهانو فیصله کړیده چه د افراطي هندوانو دعوه دیوی افسانی نه غیر بل څه ارزښت نلري او د هغی حیثیت د یوی نا حقی دعوی او قیاس آرائي ښکارندوی دي.

د پخواني صدر اعظم چندر شیکر د حکومت په وخت کې ددی مسئلي دحقیقت معلومولو لپاره د تاریخ پوهانو یو هیئت و ټاکل شو او کله چه دغه هیئت ته د بابري جومات مخالفینو او وشو هندو پرشد خپل اسناد او د لایل وړاندی کړل نوموړی هیئت د هغه په رڼا کی خپله نظریه پدی ډول ولیکله «یقیناً دا د ډیری حیرانتیا خبره ده چه «وشو هندو پرشد» دپخواني سنسکرت هیڅ ډول لیکلی ثبوت وړاندي نکړی شو چه په هغه سره دا ثابته کړي چه ایودیا د رام د پیدایښت ځای دی، د رام مندر خو لا لیری خبره ده».

له دی هر څه سره سره د هند حکومت د اوښ مارغه پشان خپله غاړه په شګو کی ایښي وه او انتظار ئی کاوه چه دا طوفان به بیله کومی صدمی او زیان څخه په خاموشي تیر شي مګر داسی ونه شوه. افراطی هندوانو د خپل لیونتوب او حماقت ښکاره ثبوت ورکړ، تاریخي بابري جومات د هغوی په لاسونو دتیګو او خاورو په ډیری بدل شو، دهغه لوړی مناری په پوره بی رحمي سره په ځمکه را پریوتی او د اسلامي هسپانیی له زوال نه وروسته یو ځل بیا دمتعصبو عیسائیانو د اسلام دشمني لعنتي مظاهر د هند په خاوره کی را ښکاره شول.

د بابري جومات د ورانیدو نه وروسته د هغی په کنډوالو باندی د رام مندر د بنسټ ایښودلو کار په ډیره چټکي سره پیل شو، ددی ټولو کارونو د لیدلو او کیدو په وړاندی د هند مرکزي او ایالتي حکومتونو یوه مجرمانه خاموشي اختیار کړی وه، هغوی د خپلی دغې پالیسی څخه دا ثابته کړه چه هغوي د اسلام او مسلمانانو په دشمني کی د افراطي هندوانو څخه په هیڅ ډګر کی وروسته پاتی ندی. دا به د حقیقت نه سترګی پټول وی چه په آینده کی د هغوي نه دا امید وشي چه هغوي به د خپل هیواد د مسلمانانو سره د انصاف او عدالت په بناء چلند وکړي، که څه هم د ټول هند د خلکو غوښتنه ده چه حکومت دی په فوری ډول استعفی ورکړي خو زمونږ باور دی چه د هند مرکزي حکومت به د خپل دغه ستر جرم په سزاء ورسیږی او د بابري جومات شهادت به د هند د افراطي حکومت او متعصبو هندوانو دتباهي او بربادي پیلامه ثابته شي.

بر داشتی از

بسم الله الرحمن الرحيم

اسلام دین تهذیب وتمدن است و پیروانش را همواره توصیه مینماید که زندگی شان را در پرتو آداب وتهذیب اسلامی بسر برند، یکی از اصول معاشرت و آداب اسلامي، آغاز امور زندگی انساني بنام پروردگار جهانیان است که انسان باید هر کار زندگی-اش را بنام الله آغاز نماید. اگر انسان ازین اصل وقاعده اسلامی با خلوص نیت پیروی نماید، فواید و برکات آتي از آن بر خواهد داشت: نخست اینکه انسان از ارتکاب اعمال زشت ونکوهیده برحذر خواهد بود، زیرا با خو گرفتن وعادت گرفتن با تذکار نام الله با خود غور وتعمق مینماید که آیا وی در انجام این کار وتذکار نام پروردگار عالمیان حق بجانب است یا خیر؟ ثانیاًاینکه آغاز امور نیکو و حسن بنام الله ذهن آدمی مسیر سالم را در پیش میگیرد و مکلف است کارش را از نقطه سالم ونیکو آغاز کند، سوم اینکه هنگامیکه وی کارش را بنام الله آغاز میکند تائید وتوفیق آفریدگار جهان شامل حالش میگردد، در مساعي اش برکت می افتد و از فساد انگیز یهاي شیطان در ایمن خواهد بود. روش ووعده خداوند لا یزال همینست که اگر انسان بطرف ذات اقدس الهي راغب میگردد، او تعالی نیز بنده اش را مورد توجه ولطف و مرحمت خویش قرار میدهد.

ذات اقدس الهي ازلي و ابدیست و به همین دلیل باید هر برنامۀ زندگی انساني را با نام اقدس او آغاز کرد و از او تعالی استمداد جست ، با این روش و این عادت نیکو، کار مان در مسیر صحیح قرار میگیرد و خداوند ما را از هر گونه انحراف باز میدارد و فرجام آن نیز مثبت ونیکو خواهد بود، لذا در نخستین آیۀ قرآن مجید می گوئیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

یعني بنام خداوند بخشندهء بخشایشگر

در حدیث معروفي از پیامبر صلی-الله علیه وسلم مي خوانیم: «کل أمر ذي بال لم یذکر فیه اسم الله فهو أبتر» (هر کار مهمي که بدون نام الله شروع شود بي فر جام است).

کوتاه سخن اینکه پایداری وبقاء عمل با ارتباط با ذات باری تعالی پیوند ناگسستني دارد، به همین مناسبت خداوند بزرگ در نخستین آیاتي که به پیامبر گرامي صلی الله علیه وسلم وحي شد، دستور میدهد که در آغاز تبلیغ اسلام، این وظیفه خطیر را با نام الله شروع کند: «اقرأ باسم ربك» ودر رویداد نوح علیه-السلام میخوانیم که در آن طوفان

مدهش، هنگام سوار شدن برکشتی وحرکت روی امواج کوه پیکر آب که هر لحظه با خطرات فراواني رو برو بود، برای رسیدن به سر منزل مقصود و پیروزي بر مشکلات، به یاران خود دستور میدهد که در هنگام حرکت ودر موقع توقف کشتی «بسم الله» بگویند:

«وقال ارکبوا فیها بسم الله مجریها ومرسها» (هود -٤١)

وآنها این سفر پر مخاطره را سرانجام با موفقیت وپیروزي پشت سر گذاشتند وبا سلامت وبرکت از کشتی پیاده شدند ونیز حضرت سلیمان علیه السلام در نامه ئیکه به ملکه سبا نوشت سر آغاز آنرا «بسم الله» قرار داد: «إنه من سلیمان و إنه بسم الله الرحمن الرحیم» (النحل - ٣٠) و روي همین اصل، جز سوره‌ء توبه، تمام سوره های قرآن مبارك با بسم الله آغاز میشود تا هدف اصلي که عبارت از هدایت وسوق بشر سوی سعادت است از آغاز تا انجام با موفقیت و پیروزی و بدون شکست انجام شود.

علت عدم موجودیت «بسم الله» در آغاز سوره توبه اینست که سوره توبه با اعلان جنگ به جنایت کاران مکه و پیمان شکنان آغاز شده و اعلام جنگ با توصیف خداوند به «رحمان و رحیم» سازگار نمي باشد.

اگر بر نامه های زندگی را با تکیه بر قدرت خداوند آغاز کنیم، ذاتیکه قدرتش ما فوق همه قدرتها ست سبب میشود که از نظر رواني نیرو و توان بیشتري در خود احساس کنیم، مطمین تر با شیم، کوشا باشیم، ازعظمت مشکلات نهر اسیم ومأیوس نشویم وضمناً نیت وعمل مان را پاکتر و خالصتر کنیم، واینست رمز دیگر پیروزي به هنگام شروع کارها به نام الله.

عدهٔ کثیري از علماء دین متفق اندکه بسم الله جزء همه سوره های قرآن مجید است ودلیل ادعای شانرا ثبت بسم الله در متن قرآن مجید در آغاز همه سورها جز سوره برائت وانمود کرده اند ومدعي اند که در متن قرآن چیزی اضافه نوشته نشده است و ذکر بسم الله در آغاز سوره ها از زمان پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم تاکنون معمول بوده است، بعضي ازصحابهٔ کرام از جمله حضرت علي وابن عباس وعبدالله ابن عمر و ابوهریرة رضي الله عنهم: وتابعین وهمچنان ابن کثیر و امام شافعي و پیروانش و ثوری و امام احمد نظر فوق را بر گزیده اند، امام بیهقي محدث شهره افاق باسند صحیح از طریق ابن جبیر از ابن عباس چنین نقل میکند:

استرق الشیطان من الناس، اعظم آیة من القرآن بسم الله الرحمن الرحیم

(بیهقي جلد ٢)

یعني مردم شیطان صفت، بزرگترین آیه قرآن(بسم الله الرحمن الرحیم) را سرقت کردند (اشاره باینکه در آغاز سوره آن را نمی خوانند).

اما اینکه بعضي ها احتمال داده اند که بسم الله آیه مستقلي باشد که جزء قرآن است اما جزء سوره ها نیست، احتمال بسیار ضعیف بنظر میرسد زیرا مفهوم و محتوای بسم الله نشان میدهد که برای ابتدأ و آغاز کاری است، ومضمونش فریاد می زند سر آغازی است برای بحث های بعد از آن.

به هر حال مسأله تا حدي روشن است که میگویند روزي حضرت معاویه در دوران حکومتش در نماز جماعت بسم الله را نگفت بعد از نماز جمعي از مهاجران وانصار فریاد زدند: اسرقت ام نسیت؟ «آیا بسم الله را دز دیدی یا فراموش کردي»؟.

(بیهقي جزء دوم- مستدرك جزء اول)

در جمله بسم الله بعد از کلمه اسم کلمه «الله» می آید که جامع ترین نامهای خداوند جل جلاله است. از بررسي نامهای خداوند در متن قرآن مجید و سایر منابع اسلامي هویدا میگردد که هر نام بخش خاصی از صفات خدا را منعکس مي سازد، تنها نامیکه تمام صفات و کمالات الهي یا به تعبیر دیگر کلیه صفات جلال و جمال ذات اقدس الهي را احتوای میکند همان «الله» میباشد.

یکي از شواهد روشن جامعیت این نام آنست که ابراز ایمان وتوحید را تنها با جمله «لا إله إلا الله» مي توان کرد وجمله «لا إله إلا الخالق الرازق » وما نند آن به تنهائی دلیل بر توحید و إسلام نیست ونیز به همین جهت است که در مذاهب دیگر هنگامیکه میخواهند به معبود مسلمین اشاره کنند «الله» را ذکر میکنند، زیرا توصیف خداوند به الله مخصوص مسلمانان است.

رحمان و رحیم:

مفسران باین عقیده اند که صفت «رحمان» اشاره به رحمت عام خداست که شامل دوست و دشمن، مؤمن و کافر و نیکو کار وبد کار می باشد، زیرا میدانیم «باران رحمت بي حسابش همه را رسیده وخوان نعمت بي در یغش همه جا کشیده» همه بندگان از مواهب گوناگون حیات بهره-مند ند وروزي خویش را از سفره گسترده نعمت های بي پایانش برمي گیرد، این همان رحمت عام اوست که پهنه هستی را در بر گرفته و همگان در دریاي آن غوطه ورند.

ولي «رحیم» دلالت به رحمت خاص پروردگار میکند که ویژه بندگان مطیع و صالح وفرمانبردار است، این بندگان نیك خداوند در نتیجهٔ ایمان وعمل صالح، شایستگی آنرا یافته اند که از رحمت وبخشش واحسان خاصی که آلودگان وتبهکاران از آن سهمي ندارند، بهره مند گردند.

و گروهي از مفسرین ، «رحمان» را صیغهٔ مبالغه دانسته اند که خود دلیل دیگر بر عمومیت رحمت اوست و «رحیم» را صفت مشبهه که نشانه ثبات و دوام است قرار داده این مخصوص برای مؤمنان است.

وهمچنان رحمان از اسماء مختص خداوند است و در مورد غیر او به کار نمی رود در حالیکه رحیم صفتي است که هم در مورد خداوند وهم در موَرد بندگان استعمال میشود چنانکه در باره پیامبر صلی الله علیه وسلم در قرآن عظیم الشأن میخوانیم: «عزیز علیه ما عنتم حریص علیکم بالمؤمنین رؤف رحیم» (التوبة – ١٢٨)

یعني ناراحتیهای شما بر پیامبر گران است و نسبت به هدایت شما سخت علاقمند است ونسبت به مؤمنان مهربان و رحیم میباشد.

سوال انیَن است که چرا از سایر صفات خداوند در بسم الله تذکار نرفته است، اما باید توجه داشت که در آغاز هر کار باید از صفتي استمداد کنیم که آثارش بر سراسر جهان پُرتو افکن است ، همه موجودات را فرا گرفته ومصیبت رسیدگان را در لحظات بحراني نجات میبخشند.

خداوند لا یزال می فرماید: « ورحمتي وسعت کل شيء» (الأعراف -١٥٦)

یعني رحمت من همه چیز را فرا گرفته است.

و در سوره مؤمن از زبان حاملان عرش خدا می خوانیم:

«ربنا وسعت کل شيءٍ رحمة» .

«خدا یا رحمت خود را بر همه چیز گسترده ای»همچنان قرآن مبارك گواهي میدهد که پیامبران برای نجات شان از چنگال حوادث سخت و طاقت-فرسا ودشمنان خون اشام، دست به دامن رحمت الله تعالی می زدند:

بناءبرین همه برنامه های زندگی را باید با نام خداوند متعال آغاز کرد و در آغاز کارها دست به دامن رحمت واسعه او زد ، چه برای پیشرفت امور و پیروزی بر مشکلات صفاتي مناسبتر رحمان و رحیم است، آغاز کار ها با بسم الله الرحمن الرحیم این مطلب را بخوبي میرساند که مؤمنین تنها به ذات اقدس الهي دل بسته اند وتنها از او استمداد مي جویند.

بسم الله الرحمن الرحیم ، این درس را نیز میرساند که اساس کار خداوند بر رحمت است و مجازات جنبه استثنائي دارد و انسان نیز باید برنامه زندگی اش را بر رحمت و محبت قرار دهند و تنها در مواقع ضروري به قهر و خشم متوسل گردد.

کلیه سوره های قرآن مبارك با رحمت واسعه الهي آغاز میگردد، و در آغاز همه بسم الله قرار دارد.

اما سوره توبه که با اعلان جنگ و خشونت آغاز میشود بدون بسم الله است.

د دین مفهوم

دین په څو معناو او مفهومونو بیان شوی دی یعنی دا چه دین څو معناوی او مفهومونه لری چه له هغو څخه ئی لومړی معنا: عزت، سلطنت، پاچاهي او حکومت کول دی.

دوهمه معنا ئی: بیخي تر دې بل شان ده یعنې ددې پر عکس ده لکه لاس لاندیتوب، اطاعت، غلامي، تابعداري او بندګي.

دریمه معنائی: حساب کول، قضاوت او فیصله کول، او د عملونو ښه او بده بدله یا مجازات او مکافات ورکول دی، لکه چه په قرآن مجید کی «دین» په همدغو دریو مفهومونو او معناو راغلی دی چه فرمائی:

«إن الدین عند الله الإسلام» (آل عمران – ۱۹)

یعني د خدای په نزد «دین» هغه دی چه انسان یوازی الله تعالی د عزت خاوند وګڼي او تر هغه پرته د بل هیچا په وړاندې خپل ځان ذلیل او ټیټ ونه ګڼي، یعني څوک چه د خدای رښتیني بنده دی نو هغه د هیچا څخه ټیټ او ذلیل نه دی، یوازې او یوازی الله تعالی د هغه بادار، مالك او سلطان دی او له خدای نه پرته هغه د هیچا غلام، فرمانبردار او تابعدار نه اوسي، یوازې الله تعالی حساب اخستونکی، مکافات ور کونکي او جزاء ورکونکي ګڼی او له هغه پرته د هیچا له حساب څخه نه ویریږي، د هیچا څخه د نیکی د بدل اخستو تمه نه کوی او د هیچا له جزاء څخه نه ویریږي نو ددغه «دین» نوم اسلام دی.

که چیری انسان بی له الله تعالی نه کوم څوك یا بل شی د اصل عزت خاوند، حقیقي حاکم او واکدار، حقیقي پاچا او مالك اود مکافات او مجازات حقیقي حقدار وګڼی او د هغه په وړاندی د غلامي او بندګی سر ټیټ کاندی، د هغه حکم ومني او د هغه د مکافاتو تمه وکړی او له مجازاتو نه نی ویریږی او هغه ته له الله تعالی نه زیات حق ورکړی نو د هغه دغه ډول «دین» خدای ته هیچری هم د منلو وړ ندی، ځکه چه هغه د حقیقت په خلاف دی، هیڅ هستی او هیڅوك او هیڅ شي داسی نشته چه پرته له الله نه پدی کائناتو کي د زیات عزت خاوند وی، پدی نړۍ او کائناتو باندی تر خدایه پرته د بل هیچا حقیقي پاچاهي او واك اختیار نشته، انسان د بل هیچا د بندګی او غلامي لپاره نه دی خلق شوی او نه د هغه د حقیقي مالك نه پرته هغه ته مجازات او مکافات ورکولی شي، دغه مطلب د قرآن مجید په نورو آیاتونو کی داسی بیان شوي دی.

« ومن یبتغ غیر الإسلام دیناً فلنْ یقبل منه» (آل عمران – ۸۵)

یعني «هر څوك چه د الله سلطاني او پاچاهي پریږدی او له هغه پرته د بل چا سلطاني او پاچاهي و مني او بی له خدایه بل څوك خپل مالك او

واکمن ومني او بندگی او غلامي ئی ومني، د سزاء او جزاء ورکولو خاوند ئی وگنی نو د هغه دین خداي هیچری نه قبلوی ځکه چه:

«وما أمروا إلا ليعبدوا الله مخلصين له الدين حنفاء» (البينه – ٥)

یعني «انسانان د خداي د بندگی لپاره مامور او مکلف دی او د بل چا د بندگی حکم ورته نه دی ورکړی شوی، دوی ماموریت لری چه د بلې هرې خوا نه مخ (توجه) را واړوی او د خداي لپاره خالصه بندگی وکړی یعنی دین د خداي لپاره خاص کړی او یوازې د هغه له محاسبی نه وویریږی.

«أفغير دين الله يبغون وله أسلم من في السموات والأرض طوعاً وكرهاً و إليه يرجعون» (آل عمران – ٨٣)

یعني، آیا انسان بی له خدایه د کوم بل چا فرمانبرداری او غلامي کول غواړی، حال دا چه د ځمکی او آسمانونو ټول هر څه چه دی یوازی د خدای فرمانبرداری او بندگی کوی او بی له خدایه د خپل حساب او محاسبی لپاره بل هیچا ته مراجعه نه کوی، آیا انسان د ځمکی او آسمان د ټولو کائناتو په خلاف ځانته یو ځانگړی لاره غوره کوي.

«هوالذي أرسل رسوله بالهدى و دين الحق ليظهره على الدين كله و لو كره المشركون» (التوبة – ٣٣)

یعني «الله خپل پیغمبر (استازي) د ریښتیني علم سره دروليږه چه ټولو درواغجنو خدایانو (بتانو او د هغو امثالو) ته خاتمه ورکړی او انسان ته داسي آزادی ورکړی چه د کائناتو او عالم له پروردگار څخه پرته د بل هیچا غلام او بنده نه وی که څه هم کفار او مشرکان د خپل جهالت له مخی هر څومره واویلا وکړی او هر څومره خوابدی هم شي».

«وقاتلوهم حتى لا تكون فتنة و يكون الدين كله لله» (الأنفال – ٣٩).

یعني: تاسي جگړه وکړی تر هغه چه له نړی څخه د غیر الله د فرمان چلونی فتنه له منځه لاړه شی او په نړی کی یوازی د خدای قانون نافذ شي او د حد:ی پاچاهي و منله شی او انسان د خدای بندگی وکړی»

له دغو پورتنو تشریحاتو څخه څرگندیږی چه ددین په مفاهیمو او معناؤ کی خدای، مالك، بادار او حاکم منل، د خداي بندگی، غلامي او تابعداری کول، او د خداي له حساب او جزاء نه ویره او د مکافاتو سره علاقه او مینه ټول شامل دی.

قرآن مجید په بل ځای کی د «دین» په باره کی داسي ارشاد فرمائی: يا بني آدم إما يأتينكم رسل منكم يقصون عليكم آياتي فمن اتقى واصلح فلا خوف عليهم و لا هم يحزنون» (الأعراف – ٣٥)

«یعني: ای انسانه، هغه وخت چه زما استازي (رسولان) تاسی ته زما احکام در وړی او هغه رسولان هم ستاسي څخه وی یعنی انسانان وی نو ستاسي څخه چه څوك زما حکمونه ومني او غاړه ورته کیږدی، پرهیز گاری او تقوی وکړی او د هغو احکامو سره سم خپل عملونه سم کاندی نو د هغوئ لپاره د هیڅ خبرې څخه ویره نشته او نه به خواشیني شي»

له دغو ارشاداتو څخه څرگندیږي چه الله تعالی انسانانو ته نیغ په نیغه خپل حکمونه نه لیږی بلکه د خپلو پیغمبرانو په وسیله ورته احکام رالیږی ځکه نو څوك چه الله تعالی خپل حاکم او واکمن گڼی نو د هغه د حکمونو منل او فرمانبرداری یوازی په هغه صورت کې کولای شی چه د هغه د رسولانو فرمانبرداری وکړی او د هغوی حکمونه ومنی او د رسول په وسیله ،چه کوم احکام راغلي وی د هغو اطاعت وکړی او غاړه ورته کیږدي دغه عمل ته «دین» وائي.

(نوربیا)

د بابري جومات د شهادت زړه دردونکی داستان

دهندي خبریال له خولې

دا د شپږم دسمبر غرمه وه چه په میکرافون باندی د (ایل، کی، ایدواني)آواز تر ډیر لیری پوری ورسید چه ویل ئی: «ایودیا ته د راتلو ټولې لارې بندې کړئ، تر څو چه امنیتی ځواکونه ونشی کولی دی ځای ته را ورسیږی» تر کومه ځایه چه ددغه میکرافون غږ رسیدلی شو خو ورسید مگر وروسته بیا هغو سرسختو افراطي هندوانو چه ددغه ځای په چاپیریال کی را غونډ شوی ؤ د نورو میکرافونونو په ذریعه دغه پیغام تر نورو لیری ځایو ورساوه.

ماته د تعجب خبره ده چه ایدواني دا اعلان دومره وروسته ولی وکړ؟ ځکه چه د تباهۍ بربادۍ او د اور او سرو وینو طوفان ایودیا د سهار نه پخپل غیږ کی نیولی ؤ او لا د سهار په خړه بی رحمه هندوان د بابری جومات منارو ته ختلی وو او دهغه په ورانولو ئی پیل کړی ؤ.

د ایدواني ددی اعلان سره دخلکو یوه خاصه او مخصوصه ډله په ډیره چټکۍ سره وخوځیده، د هغوئ د حرکت څخه دا ښکاره معلومیده چه دغو خلکو ته د څه کار لپاره خاص تربیت ورکړی شویدی،هغوی په ډیر لږ وخت کښی له ایودیانه نیولی تر فیض- آباد پورې داته (۸)کیلو متره لارې په اوږدوکښی ځای په ځای ئی خنډونه او اغزی لرونکی سیمونه را چاپیر کړل. دلارې دموانعو ډیر سامان او اغزي لرونکی سیمونه په ایودیا کی د اوسیدونکو هندوانو په کوروښو کی د پخوا نه ځای په ځای شوی ؤ.

دایل، کی، ایدوانی په مشرۍ د بهارتیه جنتا گوند، وشوا هند پرشد، بجرنگ دَل، راشتر یه سوك سنگ او بهارتیه جنتا گوند پوری مربوطه تروریست گوند (سیشوسینا) نه علاوه د لویو او کوچنیو افراطي گوندونو مشرانو څو ورځی وړاندې د هندوانو څخه خواهش کړی ؤ چه د رام مندر دیوه پر آمنه لاریون لپاره تیاری وکړی او ایودیا ته لاړ شی چه پدی اساس په شپږم دسمبر باندی هغه ځای ته دوه لکه هندوان رسیدلی ؤ، دا دومره زیات خلك په یوه ځای نه بلکه ډلی ډلی ایودیا ته رسیدلی ؤ.

مخکی می یادونه وکړه چه دایدوانی په اعلان سره زه حیران شوم چه هغه ولی دومره وروسته دا اعلان وکړ مگر وروسته ماته معلومه شوه چه دی کار دوه علتونه درلودل چه نه پوهیږم کوم یو علت به ئی صحیح وی، او یا دا چه دواړه به صحیح وی البته د هغی څخه یو علت زما په فکر دادی چه د افراطي هندوانو یو لوی گوند تر یوی بجې پوری ایودیا ته نه ؤ رارسیدلی او

ایواني دا نه غوښتل چه د ټولو هندوانو له رارسیدونه وړاندی دی لاری بندی شی او هغوی دی دمشکلاتو سره مخ شی.

دوهمه وجه کیدای شي دا وه چه د ایالتي حکومت د ځینو لوړ رتبه مامورینو او ایواني تر مینځ پدی خبره موافقه شوی وه چه امنیتي چټکی قواوی باید دومره وروسته په حرکت راشي چه په دغه لنډ وخت کی ونشی کولی چه د بابری جومات د ورانیدو مخه ونیسی او بیا په یوه بجه ایواني ته خبر ورسید چه اوس امنیتی ځواکونو ته د حرکت کولو احکام ورکړی شویدی، پدی وخت کی ایواني ته دا هم معلومه شوی وه چه تر اوسه چه دکومو دلو انتظار کیده د هغوی زیاته برخه را رسیدلی ده او پاتی په نیم ساعت کی را رسیدونکی دی نو پدی وجه ایوانی په دوه بجي دلارو د بندیدو احکام صادر کړل.

زه په پنځم دسمبر د خپل یو دوست خبریال «اشوک مهره» سره ایودیا ته ورسیدم زه هم یو خبریال یم خو د کومی ورځپانی لپاره کار نه کوم او نه په چاپوری تړلی یم، البته «اشوک مهره» یوازی د ایودیا د پیښنی تر پای ته رسیدو پوری دخپلی ورځپانی له دفتر څخه ما له کارت راکړ تر څو چه د ایودیا په واقعه کی د عامو خلکو پشان د مشکلاتو سره مخ نشم مگر حالات څه داسي ؤ چه ددغو خلکو د زیاتي هلی ځولی په وجه خبریالان له یوه ناوړه حالت سره مخامخ شول مونږ په پنځم ددسمبر (ایودیا)ته ورسیدو. (اشوک) درویټر تلویزیون دفلم اخیستونکی«رمیش چاند» سره دخپلو اوسیدو انتظام کړی ؤ.

مگر کله چه زه ایودیا ته ورسیدم خپل یو مسلمان دوست راته رایاد شو تر څو د هغه د خیریت پوښتنه وکړم ځکه د یوه دوست پوښتنه پداسی شرایطو کی زما بشری حق ؤ، نو پدی وجه ما د هر څه نه لومړی د هغه د کور طرف ته مخه کړه او پدي فکر کی وم چه شاید ورسره و اوسیږم مگر څه وخت چه هلته ورسیدم ماته معلومه شوه چه د هغه مظلوم دروازه تړلی وه هلته اوسیدونکو راته وویل چه نوموړی څو ورځی وړاندی د خپلی میرمنی او ماشومانو سره ددی ځایه څخه وتلی او بلی خوا ته تللی دی، ددی نه علاوه یوه اونی وړاندی زیات شمیر مسلماني کورنی له ایودیا څخه وتلی وی. له دغه ځای څخه مسلمانانو د (۱۹۹۰) کال را پدی خوا په وتلو پیل کړی ؤ، دا هغه وخت ؤ چه د لومړی ځل لپاره د بابری جومات د ورانیدو کوشش شروع شو. هغه وخت دا خلک هم جومات ته ور ننوتی ؤ. او د جومات په منارو باندی ئی زیړی زعفراني جنډی اوچتی کړی وی.

د خپل دوست نه له نا امیده کیدو وروسته زه د هغه هوټل طرف ته لاړم په کوم کي چه «اشوک» اوسیده، هغه چه زه ولیدم ډیر خوشحاله شو، ځکه چه دهغه دوست «رمیش چاند» په څه وجه باندی په بل ځای کی خپل اوسیدل غوره کړلی ؤ، پدغه شپه مونږ دواړو ته خوب رانه غي او یوازي پدی موضوع مو خبری کولی چه سبا به څه کیږی خو د شپی په آخری برخه کي یوازي دوه یا دري ساعته ویده شوی وو. څه وخت چه مو سهار چای وڅکه نو د هوټل څخه ووتلو، دا هغه وخت ؤ چه د ښار حالات مخ په خرابیدو ؤ، مونږ د بابری جومات په لوری روان وو. ومو لیدل چه د لاری په سر په څو ځایو کی د موټرو ټایرو ته اور اچول شویدی، په ډیر مشکل بابری جومات ته ورسیدو، هلته د «اشوک» دوست «رمیش چاند» هم د ویډیو کیمری سره موجود ؤ، «اشوک» د هغه څخه د حالاتو پحقله پوښتنه وکړه، هغه ورته وویل (۲۰) یا (۱۵) دقیقی وړاندی تاو تریخوالی زیات شویدی، ما په ډیر افسوس سره د جومات په لوری وکتل او راته د حالاتو نه ښکاره شوه چه تر نن ماښامه به دا جومات د خاورو سره یوه ډیری وي

او نوم او نشان به ئی نه وی، دخپل دی خیال په وجه خفه او غمگین وم. زه که هندو یم نو یم به، مگر زما فکر او عقیده د خپل قوم د افراطي هندوانو څخه بالکل مختلفه ده، زه پدې عقیده یم چه مذهب په حقیقت کی د انسانیت نوم دی، زه په زړه کی د نورو عبادت خانو ته احترام لرم.

«اشوک» د جومات څو عکسونه واخستل او ما یوازې یاد داشتونه اخستل، وروسته بیا مونږ د ښار د حالاتو کتلو لپاره ښار ته لاړو، په دومره وخت کی حالات نور هم بدل شوی ؤ، افراطي هندوانو د تیلفون د ستنو په را غورځولو پیل کړی ؤ، د سوزول شویو شیانو پاتی شوی برخی هم د لاری څخه لیری کړی شوی وي.

د پولیسو اقدامات ساړه ؤو، څه خاص اقدامات ئی نه کول، هغوی یوازې د خپلو ځانونو دفاع کوله، د ځینو دمخونو څخه د خوشحالۍ اظهار کیده خوښ او خوشحاله ښکاریدل داسی معلومیدل چه هغوی د یوی لوبی ننداره کوی، زما د «اشوک» په خبره یقین وشو او زړه ته می پریوته چه هغه ویل:«ایالتي حکومت د افراطي هندوانو ملگرتیا کوی» دا خبره «اشوک» ما ته د شپی کړی وه او زما خپل دا خیال ؤ چه مرکزي حکومت شاید چه اوس هم دا غواړی چه د مودی مودی دا جگړه نن ختمه شی. ما دا خیال کاوه چه ددی حادثې په وجه به «کانگرس آئي»، د(دایل، کی، ایدواني) سیاسي قوت او اعتبار ختمول غواړي. ددی قصي د پاي ته رسیدو نه وروسته به د ایل، کی، ایدواني لپاره په راتلونکو انتخاباتو کی د خپلی فتحی او برتری لپاره هیڅ وسله په لاس کی پاتی نشی، ډیر وخت وروسته مونږ بیا بابري جومات ته نژدی ورسیدو هلته په یو ځای کي کڼه گونه وه داسی معلومیدل چه دا خلك د چا خواته را غونډ شویدی.

مونږ د گڼی مینځ ته د رسیدو کوشش وکړ خو بریالي نه شو، مگر مونږ ته معلومه شوه چه د گڼی په مینځ کی د جنتاگوند دری لوی مشران د مذهبي مراسمو د شروع کولو انتظار وباسي، البته چه «او ما بهارتي» هم په دغو مشرانو کی شامله وه. زه په شخصي ډول هغه پیژنم چه یوه ډیره متعصبه هندوه ښځه ده. څه وخت چه به هغي د بابري جومات نوم واوریده نو سخت کنځل او بد الفاظ به ئی د خولی څخه وتل، وروسته ددی څخه مونږ د گڼی مینځ ته د ورتگ اراده پریښوده.

ټوله فضاء د مختلفو شعارو څخه ډکه شوه او د بیلا بیلو خواو څخه په کڼ شمیر کی احساساتي خلك پدی لور په تیزۍ سره را روان وو، په هغه کی دعامو خلکو نه علاوه یوی ډلی خلکو چه په ځان باندی ئی نارنجي رنگه څادري اچولی وی او ځانونه ئی پکی پټ کړی ؤ هم شامل ؤو، چه د هغوی په غاړو کی اوږدی اوږدی تسبیح وی چه دغی ډلی ته هندی سادهو وائي چه هدف تری مذهبي افراطیان دی، د هغوی سترگی د وینو پشان سری وی او له مخونو څخه ئی وحشت وریده، دهغوی په لاسونو کی تسکوری، بیلونه او نور داسی تخریبي فلزي آلات او ابزار ؤ چه نه پیژندل کیدل او د لرگو پوړی‌ورسره هم وی چه د جومات منارو ته ورباندی ختل.

پولیس ددی لوبی په تماشه مصروف ؤو. هغوی د حمله کوونکو مخنیوی په ښه شان سره نه کاوه، او هغه گروپ چه ځانونه ئی فدایان بلل، هغوی د هغو سیمو نو په لیری کولو او ټولولو شروع وکړه چه د جومات څخه چاپیر شوی وو، د هغوی شمیر ډیر ژر زیات شو او مخ په زیاتیدو روان ؤ، شاید چه دغه خلکو ته ددی کار لپاره څه خاص تربیت ورکړی شوی ؤ، او یا شاید چه د هند د مختلفو برخو څخه ددی فن ماهرین پدی کار کی د برخي اخستلو لپاره راغلي ؤو. په لږ ساعت کی هلته دومره

خلك را غونډ شول چه چا د يو بل آواز نه اوريده. د اغزي لرونكو سيمونو خنډونه ليرې شوي ؤو او خلك د جومات انګړ ته ور داخل شول او بيا ئې د پورته ختلو لپاره د لرګيو پوړۍ د جومات سرته كيښودې چه په ډيرو زياتو احساساتو او پوره وحشت سره ئې د جومات په ورانولو لاس پورې كړ.

ډهري مناري شخه د جي، كي، او رام شعار پورته شو او ددې سره ديوك پش پر مانند اولنۍ تسكوره د جومات مناري ته را خلاصه كړه او ورسره جوخت له هر لورې د جومات په منارو اوپه نورو برخو د تسكورو، بيلونو او نورو فلزي شيانو شوكې را سپرې شوې. ديوالونه ټوټې ټوټې كيدل، ټوله فضاء دوړو ونيوله، ډير خلك پورته ختلې نشول، هغوې د جومات د ديوالونو په ورانولو كوشش شروع كړې ؤ. هغوي ته ددې كار د مخ نيوي لپاره هيڅ قسم مزاحمت موجود نه ؤ، پوليس و تښتيدل او چټكه امنيتي قوه (چه په ظاهره د جومات د حفاظت لپاره راغلي وه) هلته هغه وخت را ورسيده چه تقريباً د پنځوس زره په شا و خوا كې هندي تخريب كاران د جومات په ورانولو اخته ؤو.

د ډيرو خبرنګارانو نه علاوه د (بي، بي، سي) فلم اخستونكي وهل شوي او ټكول شوي ؤ. دسنډې ميګزين خبريال په چاقو وهل شوى وه، د يوى بين المللي فلم اخستو اداري فلم اخستونكي «توليموف» ډير سخت زخمي شوی ؤ، او ډير خبريالان ئې د جومات انګړ ته نه پريښودل، بس زه يوازيني نيكمرغه خبريال وم چه د جومات انګړ ته ننوتم او واپس ژوندی را ووتلم.

فلم جوړونكي «رميش شرما» شايد چه پخوا د فلم جوړولو لپاره جومات ته د ننوتو پروګرام جوړ كړی ؤ او هغه غوښتل چه پخپل فلم كې يو شه حقيقي صحنی فلم برداري كړی، هغه پخپل دی مقصد كې كامياب نشو، د هغه ګروپ ټولې كمرې ماتې شوی او د هغه د ګروپ زيات ملګري سخت ووهل شول. زه او «اشوك» ډير ليرى وو نو پدی وجه مونږ ددغو خلكو څخه روغ خلاص شو، پدغه وخت كي مونږ د «پروين جين» سره مخامخ شو چه دا د ډهلي د «پاينز» د ورځپاڼې عكس اخستونكی وه، د هغې په مخ د تشويش نښې ښكاره ګليدې، هغه ډيره خفه وه، هغه زمونږ سره يو طرف ته روانه شوه او وى ويل «كه چيرى خلك داسي ګمان وكړی چه د بابري جومات ورانيدل يوه نا ګهاني واقعه او يا د احساساتو نتيجه ده» نو زه به په ډاګه سره ووايم چه دا بالكل غلطه خبره ده. زه په پخپل اخبار كې ضرور دا خبره ليكم چه بهارتيه جنتا ګوند پورې مربوطه د شورا (پارليمنت) يو غړي د شنبې په ورځ ماته ويلې ؤ چه د يكشنبه په ورځ په ايوديا كې شه كيدونكي دی، د شورا دی غړي ماته دا هم وويل چه د(٤٦٥) كاله پخواني بابري جومات د ورانيدو لپاره يو شمير خلكو ته د ډير پخوانه په يو ګاى كې تربيت وركړی شويدی.

مخامخ را روانه د فدايانو يو ډيره لويه ډله مو په نظر راغله. شه وخت چه مو دا خلك وليدل خپله لاره مو بدله كړه، راتلونكي ټولګۍ دا شعار هم وركاوه: (د رام نوم صحيح دي، د بابري جومات نوم په درواغو دي) د كوڅې شخه د تيريدو په وخت كې «اشوك» د «پروين» ددي خيالاتو سره اتفاق وكړ او وى ويل چه « ددى نه هم داسي معلوميږي چه «شيوسينا» دپنځه سوه شخه زياتو كاركونكو ته د «مديه پرديش» د ښار د«جنبل» نومی ځاى په اطرافو كې د ځو مودی لپاره تربيت وركړی شوی ؤ» زما ددی خبرو سره اتفاق ؤ چه دا كارونه ددغه خبرو پوره ثبوت ؤ. ځكه چه يوه خاصه ډله چه د (كار سيو) په نوم ياديږي په تسكورو، بيلونو او په نورو تخريبي فلزي آلاتو مسلح وه. په بابري جومات ددغه ډلی حمله بلكل د يوى

عسکري کار روائي پشان وه چه دی ته په خاص ډول تیاری شوی ؤ او دا خبره هم د هیچا نه پټه نده چه دغه د(کارسیو) ډله په بهارتیه جنتا ګوند، وشوا هندو پرشد او جنتا دل او نورو افراطي هندوانو پوری تړلی ده، دا خبره د بمبئ «انډی پینډنټ» نومي ورځپاڼي هم لیکلی ده، د شورا (پارلیمنت) غړي مري شو رساردی هم دا خبره کړې ده چه دغه ډله په «شیو سینا» ډلی پوری تعلق لری.

مونږ د کوڅې څخه تیر شو او بل سرك ته ورسیدو، وروسته «پروین جین» دیوی بلی لاری نه د بابری جومات لوری ته مخه کړه، خو ما او «اشوك» د ښار د لیدلو تکل وکړ. مونږ پخپلو پښو روان وو ځکه هیڅ وسیله نه وه، پدغه ورځ نا ممکنه وه چه تکسی او یا موټری وکرځي او هغه خلك چه سهار د وخته پخپلو موټرو کی د کورونو څخه را وتلی وو پښیمانه وو او افسوس ئی کاوه، ځکه چه هندوانو په لارکي خلك د موټرو څخه کوز کړی وو او موټرو ته ئی اور اچولی ؤ. مونږ د موټرو ډیر سکاره شوی اسکلیټونه ځای په ځای ولیدل چه په سرك پراته وو.

مونږ په ښار کی ډیر داسي کورونه ولیدل چه لوخړې ترې پورته کیدي. څه وخت چه مونږ پوښتنه وکړه نو معلومه شوه چه هغه د مسلمانانو کورونه وو چه هندوانو ورته اور اچولی و، ددغو کورونو دروازې د بهر څخه تړلی وی او بیا ئی ورته اور اچولی ؤ، نو ښکاره خبره ده چه په هغه کی اوسیدونکی ټول خلك ایره شوی دی او د ښار د نورو برخو څخه چه لوګی ختل هلته همداسی واقعات شوی وو.

په ځینو ځایو کی د مسلمانانو مړي پراته وو، داسې معلومیدل چه دا خلك د خپلو کورونو څخه د دفاع په خاطر جنګیدلی وو او د مقابلي کوشش ئی کړې ؤ. او دهغوی پلاس یو هندو هم وژل شوی ؤ پدی ورځ په «ایودیا» کی هر طرف ته بی قانوني او سر کشي وه، د مسلمانانو ډیر دوکانونه او کورونه سوزول شوی ؤ او د اور وژونکو موټرو او کار کوونکو ته اجازه نه ورکول کیده چه دخلکو د کورونو اور ئی وژلی وای. د اطفائیی یو موټر کوشش وکړ، چه یو کور د سوزولوڅخه خلاص کړی خو دغو خلکو د اطفائیي موټر ته اور واچاوه او هغه ئی هم وسوزاوه. هغه وخت چه د ښار څخه مو لیدنه وکړه مونږ دواړه ملګري بیا د بابري جومات په طرف راروان شو، شاید چه دا وخت د مازدیګر څلور څلور نیمي بجي وی، پدی وخت کی ټوله فضا دوړو نیولی وه. مونږ ولیدل چه د جومات د دوو کوچنیو منارو خو څه نښه هم نه وه پاتی او د منځنی منار د ورانولو کار شروع شوی ؤ پدې وخت کی «وشوا هند پرشد» او د بهارتیه جنتا ګوند مشر چه احساساتي شعارونه ئی ورکول او نظمونه ئی ویل هلته ورسید، هغوی د جومات ورانونکو ته خاص تشویق کوونکی شعارونه اورول.

په دغه ځای کی د فیض آباد د ښار قاضي هم د (۲۰) یا (۲۵) پولیسو په منځ کی ولاړ وو او خبریالانو د هغه نه پدې باره کی سوالونه کول چه د هغه سره ددی سوالونو هیځ قسم جواب نه ؤ خو هغه خپل احساسات قابو نکړی شول او په قهر او غضب سره ئی چغه کړه چه دسیاستمدارانو څخه پوښتنی وکړی.

ددی قاضي سره په ملګرتیا کی یو د ښار حاکم هم ؤ، هغه د شونډو په سر وویل چه ځي چه مصیبت ختم شو، د راتلونکي وخت لپاره هم مصیبت ختم شو، شاید چه نور لوړ رتبه مامورین به دپولیسو په دفتر کی ناست وو او داسی قسم خبری به ئی کولی.

زمونږ خواته د پولیسو یو لوړ رتبه مامور ولاړ ؤ او داسي بي پروا شان خبري ئی کولی:«ددي لیونو په مقابل کی مونږ څه کولی شو؟ ددی خلکو کنټرولول زمونږ د قدرته پوره نه وه» زما ددی پولیس مامور په خبرو قهر

راغي او ورته مى وويل «تاسو دروغ وائى جناب هغه څه چه وشول په هغه کى تاسو پوره شريك ياست هغو خلکو چه غوښتل ئى د جومات انګړ ته داخل شي تاسو ئى تظاهرى او نمايشي مقابله وکړه او هغه هم يوازې ددى لپاره چه خپل ځانونه ددې خلکو د مينځه اوباسي او لاره ځانته خلاصه کړي؛ تاسو هغه خلك ئى چه د اوښکي بهيدونکي ګاز د استعمال څخه مو انکار وکړ، دا يو واضح حقيقت دى چه ستاسو نه علاوه نيمه عسکري دستو هم ددغو ليونيو هندوانو مقابله نده کړى او هغوى مو د بابري جومات د ننوتلو څخه ندى منع کړى بلکه د بابري جومات د حفاظت لپاره ئى د سره څه کوشش هم ندى کړى او ددى کار ثبوت زمونږ سره په هغه وخت کي موجود ؤ او مونږ د سر په سترګو هر څه ليدل، ما پخپلو لاسو څلور ځواو ته اشاره وکړه چه دا حقيقت دى چه امنيتي قواؤ د جومات د ورانيدو په وخت کى خوشحالي کوله او ځينو خو لا يو بل ته مبارکى هم ورکوله، ځيني خو پکى داسي هم ؤ چه په لاس کى ئى د پوليس ډانګى ورسره ؤ او هغه خوا بيکاره ولاړ وو، ما د ډيره قهره ډيرى زياتي خبرى کړى وى چه د هغو غږ د رويتر د فلم اخيستونکي راميش چاند څخه واخيستل شو. کله چه مونږ اشوك وليده نو هغوي وربانديي قيامت جوړ کړى ؤ ډير قهرجن او په غصه شول، ما او اشوك په ډيره چالا کى سره د دوي د منګو څخه ځانونه خلاص کړل مګر غريب راميش چاند دڅو ډانګو لاندى راغي، د هغه سر مات شو او جامي ئى په وينو سرى شوى او په ځمکه را پريووت پدى وخت کى څو تنه پوليس راغلل او مونږ ئى ددغو خلکو د شره خلاص کړو.

معلومه شوه چه د بابرى جومات د ورانيدو نه وروسته دا خلك په ډيره خوشحالي په ښار را خواره شول او په ټولو لارو کى ئى د خوښۍ شعارونه ورکول، هغوى له څو نورو کورونو نه علاوه يو جومات ته هم اور اچولي ؤ. مونږ دواړه ملګري د ډير وخته په خپله کوټه کى د يو بل څخه نا خبره په خپل خپل سوچ او فکر کى ډوب پراته وو، هغه څه چه نن مو ليدلي ». هغه د انسانيت توهين ؤ، بر سيره پدى ددې ټولي معاملي يو تشويشناکه برخه دا هم وه چه دا ستر جنايت به زمونږ د هيواد په راتلونکى باندى کومه بده او ناوړه اغيزه پرى باسي.

کله چه شپه پخه شوه نو مونږ دواړه ملګرى يو ځاي بيا هغه ځاى ته د تللو فيصله وکړه تر څو د هغه ځاى پوره حالات معلوم کړو، هغه ځاى چه د نن ماښام نه پخوا بابري* جومات پکى موجود ؤ.

په لاره کى اوس آرامي او سکوت ؤ له ځينو ځايو څخه لوګى اوس هم پورته کيدل پوليس او د نيمه عسکرى قواؤ ځوانانو په لاره کى پيره کوله، هغوى مونږ څو ځايه و درولو، مګر څه وخت چه ورته معلومه شوه چه دوى خبريالان دى نو مونږ ته ئى د تلو اجازه راکړه. مونږ چه د بابري جومات ځاى ته ورسيدو نو حيران شو، مونږ فکر کاؤه چه اوس به په هغه ځاى کي کرارى وى خو زمونږ د فکر بر عکس هلته انتهاي جوش او خروش ؤ بې شماره شيانو ته اوراچول شوې ؤ.

له بل طرف څخه د بابري جومات خاورې او تيږې ليرې کيدلى او په هغه ځاى د رام مندر بنيادونه ايښودل کيدل. زه او اشوك يو بل ته نژدې شو او ومو ويل چه په دومره عجله د مندر بنسټ ايښودل به په ټول هندوستان کى د فساد اور بل کړي.

دوهم سهار چه مونږ هغه ځاى ته ورغلو نو مونږ وليدل چه هلته يو وړوکي شان مندر جوړ شويدې نه دا چه يوازې مندر جوړ شوي ؤ بلکه سرکاري حفاظتي مامورين هم ولاړوو، اوس پدى کى د شك ځاي پاتي نشو، چه هغه څه چه شوى ؤ په هغه کى د ايالتي حکومت او مرکزي حکومت دواړو رضاء او موافقه موجوده وه.

قصاص د ژوند زیری

«یا أیهاالذین آمنوا کتب علیکم القصاص في القتلی، الحر بالحر والعبد بالعبد والأنثی بالأنثی فمن عفی له من أخیه شيء فاتباع بالمعروف و أداء إلیه باحسان، ذلك تخفیف من ربکم ورحمة، فمن اعتدی بعد ذلك فله عذاب ألیم، ولکم في القصاص حیاة یا أولی الألباب لعلکم تتقون» (البقرة ۱۷۸ - ۱۷۹)

یعنی : ای مؤمنانو! د وژل شویو کسانو په باب په تاسو باندی قصاص فرض شویدی، آزاد د آزاد په مقابل کی، غلام دغلام په بدله کی او ښځه دښځې په بدله کی ، نو که ستاسو له دلې ځخه کوم تن د خپل (دیني) ورور له طرفه ویخښل شو، او دقصاص حکم ئی په خونبها بدل شو، باید چه نیکه لار غوره کړی (او ددیت د اخستلو په وخت کی ددیت ورکوونکی وس او توان په نظر کی ونیسی) او قاتل هم باید دمقتول ولی ته په نیکه رویه سره دیت وسپاری (او په هغه کی انی بهانی ونه کړی) دا ستاسو د رب له طرفه تخفیف او رحمت دی او څوك چه دی نه وروسته دتیری او تجاوز لاره غوره کړی په درد ناك عذاب به اخته شی، او ستاسو لپاره په قصاص کی ژوند دی ای د عقل خاوندانو تر څو د تقوی لار خپله کړئ.

ددغو مبارکو آیتونو شأن نزول په دی ډول دی چه د جاهلیت په زمانه کی دعربو عادت دا ؤ چه که څوك به ددوی له قبیلی څخه ووژل شو نو تر څو چه به ئی کولی شو د قاتل له قبیلی څخه به ئی خلك وژل او دغه فکر و سره دومره پیاوړی شوی ؤ چه د یوه مړني په مقابل کی ئی د قاتل د قبیلی د ټولو افرادو په وژلو هم صرفه نه کوله.

دقصاص اسلامی حکم، په حقیقت کی یو عادلانه او منځګړی حد ؤ چه د هغه وخت د دوو بیلابیلو احکامو تر منځ دالله تعالی له لوری نازل شو، ځینو قصاص لازم ګڼلی ؤ او بل هیڅ شی ته ئی غاړه نه ایښودله او ځینی خلك یوازی ددیت غوښتونکی ؤو خو د اسلام مقدس دین، قصاص دمقتول د وژني د ناخوښی او عدم رضائیت په صورت کی او دیت ئی د دواړو خواؤ د خوښی په صورت کی لازم وګرځاوه.

له دی وروسته یو لړ اسلامي احکام مطرح کیږی او په دغه لړکی تر

تولو لوړي د ويني د احترام ساتنه چه په ټولنيزو روابطو کی تر ټولو مهمه مسأله ده پيل کيږي او په ټولو جاهلی آدابو او رواجونو باندي دبطلان کرښه راکښل کيږي، الله تعالی مؤمنان مخاطب کوي او ورته فرمائی: ای مؤمنانو د وژل شويو کسانو په مقابل کی په تاسو باندی قصاص فرض شويدي، په قرآن مبارك کی د (کتب عليکم) کلمه د مطلب د تاکيد او فرضيت لپاره استعمال شويده او هره مسأله چه په دغه جمله پيل کيږي له هره حيثه ئی قطعيت ثابت وي.

قصاص له قص څخه مشتق دی چه معنی ئی دکوم کار پلټل او ادامه ده او هر هغه کار چه پرله پسی واقع کيدونکی وي، په عربی ژبه کی ورته قصه وائی او څنګه چه قصاص هغه قتل دی چه دبل قتل نه وروسته واقع کيږي نو ځکه ورته دغه کلمه غوره شويده.

لکه څنګه چه د مبارکو آيتونو په شأن نزول کی وويل شول دغه آيتونه دهغو تيريو د تعديل لپاره نازل شول چه د جاهليت په زمانه کی به د قتل په مقابل کی سرته رسيدل او د يوه تن وژل به د لس ګونو کسانو د قتل او تباهی موجبات برابرول ، دقصاص دکلمی انتخاب دا په ډاګه کوی چه دمقتول ورثه حق لری چه قاتل ووژنی او هغه کار ورسره وکړی چه هغه ئی مرتکب شويدی.

وروسته ددی لپاره چه ثابته شی چه دقصاص مسأله يوازی دمقتول د ورثی لپاره يو حق دی او کوم الزامی حکم نه دی او که د مقتول ورثه وغواړی نو قاتل ته عفو کولی شی او ديت تری اخستلي شی او که وغواړی نو له ديت څخه هم ورته تيريدلی شي، قرآن مبارك زياتوی چه « که څوك د خپل ديني ورور له خوا وبخښل شی (اه. د قصاص حکم د دواړو خواؤ په خوښه په خون بها بدل شی) نو بايد نيکه لار غوره کړي، او دديت د اخستلو په وخت کی له انصاف څخه کار واخلی ، او قاتل هم دديت د ورکولو په کار کی بايد ټال مټول ونه کړی.

په دی ډول د کايناتو خالق په خپل کلام کی دمقتول اولياؤ ته توصيه کوی چه که قصاص نه مو صرف نظر کړی وی، نو د خون بها په ټاکلوکی هم زياتی مه کوی او په ښه ډول دپيسو عادلانه رقم وټاکی او په داسی اقساطو ئی تری واخلی چه مقابل لوری ئی د ورکړی او اداء کولو قدرت او توان ولری او بل خوا د «و أداء إليه باحسان» په هدايت سره قاتل ته هم توصيه کوی چه د خون بها په سپارلو کی له احسن روش څخه کار واخلی او ټاکلی پيسی په کامل ډول په ټاکلی وخت بيله کومی مسامحی د مقتول ورثي ته وسپاری او په دی ډول الله تعالی د دواړو خواؤ وظيفی او مسئوليتونه ټاکلی دی.

د «قصاص» او «عفو» دغه عادلانه قانون چه په حقيقت کی يوه کامله انسانی او منطقی مجموعه تشکيلوی له يوی مخی ئی دجاهليت د عصر هغه فاسد روش چه په قصاص کی دهيڅ ډول برابری قايل نه وو او د يوه تن په بدله کی به ئی په سوونو کسان له تيغه تيرول، له منځه يووړ او له بلی خوا دعفوی لار هم دخلکو په وړاندی نه تړی، په عين حال کی د وينی احترام هم نه کموی او قاتلانو ته دزيات فساد جرأت او جسارت هم نه ورکوی او همدا شان هدايت ورکوی چه دعفوپروګرام او خون بها له اخستو وروسته هيڅ يوه ډله په بله باندی د تيری او تجاوز حق نه لری

ځکه په جاهلي قومونو کې به ډېر ځله د مقتول ورثې دعفوې له کولو او د خون بها د اخستلو نه وروسته هم د قاتل د مرګ لپاره هلې ځلې کولې.

وروستي آيت مبارك په يو لنډ مګر له معنی او محتوا څخه ډك عبارت سره دقصاص د مسألې په باب زياتو پوښتنو ته ځواب وائي او فرمائي: اي دعقل خاوندانو قصاص ستاسو لپاره د ژوند باعث دی تر څو تقوی وکړئ (ولكم في القصاص حياة يا أولى الألباب لعلكم تتقون).

دغه مبارك آيت چه په لسو کلمو کې، دفصاحت او بلاغت او خوږ والي په وجه ئې د يو اسلامي شعار حيثيت غوره کړی او دخلکو په اذهانو کې ئې ځای نيولی په ډاګه اعلانوی چه اسلامی قصاص هيڅکله هم د انتقام او غچ اخستلو جنبه نه لری بلکه د انسانی آبرومند ژوند لپاره يوه غوره دروازه ده.

اسلامي قصاص له يوې خوا دټولنيز ژوند د امنيت ضامن دی ځکه که دقصاص حکم صادر شوی نه وی او سخت زړو قاتلانو د خپل سر د امنيت احساس کولی او د خلکو د وژني او ترور په بدل کې ورته د خپل وجود خطر متوجه نه وی نو د خلکو ژوند به له راز راز خطرونو سره مخامخ وی لکه څنګه چه ښکاره ده په هغو هيوادو کې چه د قصاص قانون وجود نه لری، دقتلونو او جناياتو شمير ډېر زيات دی، او له بله پلوه په قصاص کې د قاتل د ژوند راز هم پروت دی ځکه هغه تر زياتی اندازې د سړی وژنی له فکر څخه منع کوی او له جنايت څخه ئې لاس نيسی.

بل خوا دا هم د يادولو وړ ده چه د قصاص حکم د تساوی او برابری د لزوم په خاطر د پرله پسې قتلونو مخه نيسی او هغه جاهلی رسم چه يو قتل به د لس ګونو بلکه د سوونو قتلونو موجبات برابرول پای ته رسوی او همدغه وجه ده چه قصاص د ټولنيز ژوند متضمن دی.

د «لعلكم تتقون» جمله چه له هر ډول تيری او تجاوز څخه دګان ژغورنی الهی اخطار دی دقصاص په باب د اسلام حکيمانه حکم د تکميل مرحلې ته رسوی.

په کونړ کې دافغانستان دسر تيرو مجاهدينو د اوږدو قربانيو او مجاهدو نه وروسته د امام الجهاد شهيد شيخ جميل الرحمن (رحمه الله) په مشرۍ د اسلامي امارت له تأسيس نه وروسته دسيمې د خلکو د ټولنيز ژوندانه د امنيت او د هغوئ د عزت او وقار د تأمين لپاره د اسلامي مکمل نظام د تطبيق سره سره د قصاص نظام هم په ښه ډول تطبيق شواو له هر چا څخه د جنايت او بی ځايه قتل جرأت سلب شو او په نتيجه کې د سيمې امنيت د مجاهدينو او ديني علماؤ په لاس په کامل ډول تأمين شو.

داسلامي امارت له تأسيس نه وروسته څلور تنه په بيلو بيلو وختونو کې د بی مورده قتلونو په جرم د اسلامي شرعي محکمې د فيصلې او د متهمينو د اعتراف نه وروسته د مقتولينو د اولياؤ په لاسونو په عمومی محضر کې قصاص شول چه د نړۍ په بين المللی خبري آژانسونو کې ئې ډول ډول انګازې خپرې شوې.

سره له دې چه دقصاص په دغو ټولو محضرونو کې ورځپانه ليکونکو او د بين المللی راديوګان او تلويزيونونو نمايندګانو برخه اخيستې او د سر په سترګو ئې ليدل چه قاتلين د مقتولينو د وارثانو له خوا د اسلامي حکم د اوريدلو نه وروسته قصاص کيدل او دجرم کيفيت ئې د اسلامي

محکمې د قاضي له خوا عمومي محضر ته اوړول کیده. خو بیا هم ځینو نړیوالو محافلو له اسلام سره د خپلې پټې دښمنۍ له مخې د قصاص دغه عمل په افغانستان کې د انساني حقوقو څخه د یو ډول تیرې په ډول تعریف کړ او د اعتراض ډنډورې ئې ووهلې.

غربي ډنډور چیان د قصاص داسلامي حکم په باب ادعا لري چه :

۱- هغه جنایت چه قاتل ئې مرتکب شویدی پخپله یو انساني قتل دی نو ولې تاسو د قصاص په وخت کې دغه عمل (انسان وژنه) بیا تکرار-وئ؟

۲- قصاص پخپله د غچ اخستلو او قساوت نوم دی، دغه ناوړه صفت باید په سمه او صالحه توګه له ټولنې څخه لیرې شي، په داسې حال کې چه د قصاص طرفداران هره ورځ د غچ اخستنې دغه ناوړه صفت ته نوې روح وربخښي.

۳- سړی وژنه داسې ګناه نه ده چه د روغ او عادي انسان په لاس سرته ورسیږي، ضرور به قاتل په کوم روحي او عصبي ناروغي اخته وي او باید تر تداوې لاندې ونیول شي، قصاص ددغه ډول ناروغیو علاج نه دی.

٤- په ټولنیز نظام پورې تړلې مسایل باید ټولنې ترڅنګ مخ په وړاندې ولاړ شي په دې بناء هغه قانون چه له نن څخه څوارلس سوه کاله وړاندې د تطبیق وړ ؤ په نننۍ ټولنه باندې باید عملي نشي.

٥- آیا بهتره به نه وي چه قاتل د قصاص په ځای په بند محکوم شي او د اجباري کارونو په اخستلو سره ترې د ټولنې په ګټه استفاده وشي؟ په دې ډول به هم ټولنه دده له شر څخه په امن وي او هم به ئې تر زیاتې اندازې له وجودڅخه ګټه واخیستل شي.

دا ټول هغه اعتراضات او نیوکې دي چه دقصاص په باب مطرح کیږي.

ځواب : د قصاص په باب د قرآن مجید په آیتونو کې دقت پخپله دغو پوښتنو ته ځواب وائي: (ولکم في القصاص حیاة یا أولی الألباب) ځکه د خطرناکو او مفسدو کسانو له منځه وړل پخپله د ټولنې درشد او پرمختګ زمینه برابر وي او څنګه چه په دغه برخه کې د قصاص مسأله د ژوند او بقاء ضمانت کوي په همدې اساس به شاید قصاص د یوې غریزې په ډول د انسان په خټه کې اخښل شوی وي.

د طب، کرنې او مالدارۍ نظامونه ټول دهمدې عقلي اصل (دخطرناکو او مزاحمو موجوداتو له منځه وړل) په بنسټ ولاړ دي ځکه خو وینو چه د بدن ساتنې او نجات په خاطر، فاسد غړي پرې کیږي او یا د کښورو بوټو او فصل د رشد په خاطر، زیان رسوونکې وابښه او بوټي له بیخه وکښل کیږي، هغه کسان چه د قاتل وژل ورته نیمګړتیا ښکاري، یوازې انفرادي نظر لري؛ خو که دوې د ټولنې صلاح او ښیګڼه په نظر کې ونیسي او په دې و پوهیږي چه د قصاص د حکم اجراء د ټولنې د نورو وګړو د حفظ او تربیت لپاره څومره ګټور رول لوبوي، یقین دی چه دقصاص په باب به خپل اعتراضات بیرته واخلي او په خپله نظریه باندې به نوې نظر وکړي، ددغو خونخوارانو له منځه وړل په حقیقت کې هماغه د وجود دفاسدو غړو او د کرونډې د فاسدو ګیاؤ اوبوټو له منځه وړل دي چه دعقل په اساس باید له بیخه وویستل شي او هیڅوک به داسې نه وي چه دوجود د فاسدو غړو او د

کرنی له ځمکو ځخه د مضرو بوټو او گیاؤ د له منځه وړلو سره مخالفت څرگند کړی.

دوهم اعتراض په ځواب کی باید ووایو چه دقصاص حکم هیڅکله هم د غچ اخستلو له مسالی سره اړیکی نلری ځکه انتقام او غچ اخستنه د شخصی مسایلو په ترڅ کی دقهر او غصی د اور کښیناستلو په معنی دی، په داسی حال کی چه قصاص په ټولنه باندی د ظلم او ناروا د تکرار د مخنیوی لپاره فرض شویدی چه هدف ئی دنورو بی گناه کسانو حمایت او دانصاف تامین دی.

دریم اعتراض په باب چه وائی قاتل به اورمرو په کومه روحی ناروغی اخته وی او روغ سړی هیڅکله هم په دغسی جنایت لاس نه پوری کوی باید ووایو، کله کله دغه خبره هم صدق کوی او اسلام هم په دغه صورت کی د لیونی قاتل لپاره دقصاص حکم نه کوی خو دا هم نشی کیدی چه د قاتل ناروغی د یو قانون او عذر په حیث و منل شی ځکه هغه فساد چه له انسان وژنی ځخه را ولاړیږی او هغه جرأت چه جنایت کارانو ته په برخه کیږی هیڅکله هم ترې سترگی نشی پټیدلی ، او که د قاتل په باب دغه استدلال قانونی وگڼل شی نو بیا خو ټول تیری کوونکی او د نورو په حقوقو خیټه اچوونکی هم باید له مجازاتو او حساب نه خلاص شی ځکه هغه کسان چه سلیم عقل واري هیڅکله هم په نورو تیری نه کوی او په دی ډول بایدټول جزائی قوانین ملغی اعلان شی او باید ټول ظالمان او د نورو په حقوقو تیری کوونکی د جزاء او زندان په ځای عقلی او عصبی روغتونونو ته واستول شی.

ددی اعتراض په ځواب کی چه وائی: د ټولنی پر مختگ د قصاص د قانون یوازی په پخوانیو ټولنو کی مروج ؤ خو اوس قصاص د وجدان په خلاف حکم ته ویل کیږی چه باید له منځه یوړل شی؟ وایو چه: دغه ادعا په ننني نړۍ کی د وحشتناکو جنایاتو او د جگړی په ډگر کی د انسان وژنی د گراف د اوچتیدو په وړاندی یوه بی ارزښته ادعا ده چه یوازی له خیالی تنستو سره تشبیه کیدی شی او که فرضاً دغسی له امنیت ځخه ډکه پر مختللی نړۍ منگته راشی نو داسلام مقدس دین هم د قصاص دحکم د فرضیت په څنگ کی دعفوی قانون لری او هیڅکله هم قصاص د لنډی او تنگی لارې په نوم نه معرفی کوی، بی له شکه به په یو سالم محیط کی خلك پخپله دا غوره وگڼی چه قاتل ته عفو وکړی خو په ننني نړۍ کی چه جنایات او ظلم او ناروا ډکی په بیلا بیلو نومونو له پخوا نه زیات شوی او وحشی شوی او خونړی شویدی د قصاص دحکم حذف به غیر له دی چه د جنایاتو لمن پراخه کړی بله گټه تری نه لیدل کیږی.

او د پنځم اعتراض په ترڅ کی باید پاملرنه وشی چه د قصاص هدف لکه څنگه چه په مبارك قرآن کی ئی صراحت شوی دټولنی دعمومی امنیت او بقاء ساتنه او د قتل او جنایت د تکرار مخنیوی دی او زندان نشی کولی چه د قاتل او جنایت کار د تنبیه او مجازاتو له پاره کفایت وکړی (په تیره بیا اوسنی زندانونه چه شرایط ئی د قاتلانو او جنایت کارانو له کورونو ځخه ښه دی) او په همدی دلیل ویلی شو چه په هغو هیوادو کی چه د اعدام حکم پکی لغو شوی په ډیره لنډه موده کی پکی د قتل او جنایاتو شمیر څو برابره زیات شویدی.

نوی نړیوال نظام

NEW WORLD ORDER

دوهمه برخه

د عابد ژباړه

دلندن د جیوش کرانیکل Jewish chronical – نومی اخبار د ۱۹۱۹م د اپریل په ګڼه کی ولیکل: «دبلشویك تحریك په حقیقت کی یو بل شی دی کنه دومره زیات شمیر یهودیان به ورسره ولی تړل کیدل، حقیقت دا دی چه دبلشویك تحریك اهداف او مقاصد کټ مټ دصهیونیت په شان دی».

هنری فورد (دفورد موټرونو د کمپنی مؤسس) په ۱۹ فروری ۱۹۲۱م دنیویارك له «ورلډ» نومی جریدی سره په مرکه کی وویل: « ددغو اسنادو په باب زه همدومره وایم چه پیښی په نوموړو اسنادو کی د ټاکلی پلان سره سمی را منځته شویدی.

دغه اسناد شپاړس کاله پخواني دی او اوسنی واقعات کټ مټ هماغه شان دی لکه څنګه چه په اسنادو کی ئی پیشګوئی شویده»

په دغو اسنادو کی دیو «زبر ځواکی حکومت» یادونه شوی، د مثال په توګه په شپاړسم سند کی ویل شویدی چه : «په هر هېواد چه وی مونږ باید داسی یو پیاوړی حکومت رامنځته کړو تر څو د هغو کسانو د امنیت او تحفظ ضمانت وکړی چی په داو طلبانه توګه ددغه دولت اطاعت ته غاړه ږدی».

د۱۹۵۷م کال په وروستیو کی د برتانیی دولت په رسمی ډول دداسی پلان اعلان وکړ چه دهغه پیشګوئي شپیته کاله وړاندی په صهیونی اسنادو کی ورکړی شوی وه. په بهرنیو چارو کی د برتانیي د دولت معاون وزیر د ۱۹۵۷م کال د نومبر په اومه نیټه د برتانیي په دار الأمراء کی اعلان وکړ چه: « د معظمي ملکی حکومت د نړیوال دولت د تأسیس د پلان پوره ملا تړ کوی، مونږ ددغه دولت تأسیس د خپل هدف وروستی پاټکی ګڼو او دغه پاټکی ته د رسیدو لپاره به د خپل قدرت او توان سره سم هر ممکن کوښښ وکړو»

اوس به د څلور ویشتو

اسنادو څو نموني دګرانو لوستونکو مخې ته کیږدو: «دا خبره په ښه ډول په ذهن کی وساتئ چه دخلکو اکثریت د خراب او فاسد طبیعت لرونکو وګړو څخه تشکیل دي. ښه کسان ډیر کم پیدا کیږي او په همدي وجه په هغوي باندي په ښه ډول د حکومت کولو کار په علمی دلایلو سره وړاندی نه ځي. حکومت هغه وخت بر لاسی کیدی شی چه د جبر او تشدد له لاری دخلکو په زړونو باندی ویره او دهشت پری ایستل شي».

«آیا کوم هوښیار سړی دا انګیرلی شی چه عام خلك به دمنطقی دلایلو او براهینو په وسیله قایل او سمی لاري ته راشی؟ دغه خلك چه د ذهنی استعداد او منطقی استدلال سطحی صلاحیت لرونکی وی کوچنی کوچنی اعتراضات او منفی دلایل ورباندي زر آغیزه کوی او منلو ته ئی زړه ښه کوی عام خلك یوازی دجذباتو په سمندر کی ښه سفر کوئ او د نظریاتو د اغتشاش له لاري پکی بی اتفاقی پیدا کیدی شی، وروسته که ورته هر څومره معقول دلایل هم را وړاندی شی، د اتحاد او اتفاق امکان ئی پای ته رسیدلی وی»

«دسیاست او اخلاقو تر منځ هیڅ مشترکه وجه نشته او هغه حکمران چه د اخلاقی ارزښتونو لمن له لاسه نه وباسی هیڅکله هم پوه سیاستمدار کیدی نشی او په همدغه وجه ئی د حکومت واګی کمزوری وی. څوك چه غواړي په خلکو حکومت وکړی ورته پکار ده چه دعیاری او مکاری لار خپله کړی، ټول اخلاقی صفات لکه رښتیا ویل، ایمانداری، په عهد وفا کول او جرأت د سیاست په ډګر کی لویه ګناه ده، دغه صفات ددی سبب کیږی چه له اقتدار څخه د حکمران لاس وباسی، دغه صفات په غیر یهودی حکمرانانو کی احسن صفات دی خو مونږ باید ورڅخه دعبرت درس واخلو».

«مونږ باید دخلکو د متواضع خصلت، د هغوی دغفلت او سهل انګاری او زړه نازړه توب او دخپل ژوند له حال او په خپلو نیکو او بدو باندي دهغوئ د پوهی د استعداد له نشتوالی څخه ګټه پورته کړو، مونږ باید پدی خبره ښه پوه شو چه دخلکو طاقت ړوند، کوڼ، بی شعور او له منطق څخه نا آشنا او هره شیبه دیوی اشاری منتظر دی، هر لور ته چه ئی وغواړی را ګرځولی ئی شی».

«که دیو ملت قیادت له پیل څخه د ولس له منځ څخه را پورته شویوو کم ظرفو او بي شخصیتو اشخاصو ته وسپارل شی، نو د هغوی خپل منځی مخاصمانه کشمکش او د طاقت او اقتدار لپاره دهغوی رسه کشی او د هغي په نتیجه کی منځته راغلی بدنظمي به دغه ولس دتباهی او بربادی د کندی په غاړه و دروی».

«یوهیواد یا خو دخپل کورنی اړو دوړ او سیاسی تشنج په وجه له منځه ځی او یا دکورنیو رقابتونو په نتیجه کی ور باندی بهرنی دشمن تسلط مومی په دواړو حالاتو کی دغه هیواد د آینده لپاره په خپلو پښو د ودریدلو توان نشی پیدا کولی او په دی ډول زمونږ په قبضه کی راتلای شی، د

سرمانی استبدادی قوت چه په کامل ډول زمونږ پلاس کی دی ددغه ډوب شوی ملك لپاره د زهرو نمړی جوړیږی چه جبراً او قهراً ئی قبلوی او که ئی ونه منی نو تباه کیږی».

«کله چه د یو هیواد مرکزی طاقت کمزوری شی او ملکی قوانین او حکمرانان ئی د فکری آزادۍ د افراط په نتیجه کی دحقوقو په سیلاب کی له خپل تشخص .څخه لاس په سر شي، نو ما ته یو نوی حق را مخ ته کیږی او هغه حق د یو زبر-ځواك دحملی حق دی، تر څو په ټولنه باندی دحاکم نظام او قوانینو مانۍ دړې وړې، پخواني اداري او ارګانونه له نوي سره جوړ او په هغو خلکو باندی تسلط پیدا کړی چه دخپل آزاد فکر له مخی خپل قوت په داو طلبانه ډول زمونږ په پښو کی ږدی».

«دسیاست په ډګر کی نور خلك تر خپلی استعماری قبضی لاندی را وستل او دخپلی مطلق العنانی دټینګولو لپاره د نورو په خاوره بیله څنډه منګولی ښخول کاملاً روا دی».

« که د ګردی نړۍ ټول غیر-یهود ولسونه سره لاسونه یو کړی نو د څه مودې لپاره زمونږ په مقابل کی لږ شان بری موندلی شی، خو مونږ ځکه له دغه خطر څخه په امن کی یو چه هغوی پخپل منځ کی سخت اختلافات لری او ددغو اختلافاتو جرړې دومره کلکی دی چه هیڅکله هم نشی ورکیدی.

مونږ په تیرو شلو پیړیو کی دغیر یهودی ولسونو تر منځ دشخصی او قومی اختلافاتو اور دومره تازه کړی او د هغوی عقیدوی اختلافات او نژادی نفرتونه او کرکی مو دومره قوی کړیدی چه پای ته رسیدل ئی نا شونی کار دی».

«مونږ باید په غیر یهودی حکومت کی داسی شرایط پیدا کړو تر څو پخپله دی ته اړ شی چه زمونږ سره همکاری وکړی. دغه کار باید د دغو هیوادو د خلکو له خوا په خپلو حکومتونو باندی د فشار په نتیجه کی سرته ورسیږی او په دغه لار کی تر ټولو کاری وسیله یعنی مطبوعات او تبلیغات په کار واچول شی .لنډه دا چه باید د اروپا په غیر یهودی دولتونو باندی د خپلی قبضی دټینګولو لپاره له تخریبکاری نه هم کار واخلو. مونږ باید دتخریبی عملیاتو په وسیله په دغو هیوادو کی دخپل قوت مظاهره وکړو او که دوئ ټول زمونږ په خلاف یو لاس او یو موټی شی، نو مونږ به ئی په مخالفت کی د امریکی، چین او جاپان نظامی قوت په کار واچوو».

«ددی لپاره چه غیر یهودي ارګانونه دخپل ټاکلی وخت نه وړاندی له منځه لاړ شی، مونږ په ډیره هوښیاری او چل وټو سره بندو بست کړیدی، مونږ په هغو کمانیو قبضه کړیده چه دغه دستګاه په حرکت راولی، دغه کمانۍ په دولتی دستګاه کی مهم رول لری او حساس پوستونه ئی په لاس کی دی. مونږ هلته د آزادۍ په نوم ګوډ-ونکی ځای په ځای کړیدی. د قانون په نافذونکو ادارو کی زمونږ لاس موجود دی، په انتخاباتی کمیسو [illegible] زمون [illegible]

طرفداران چلوی ، دانسانی حقوقو یو شمیر مدعیان او علمبرداران زمونږ په خوښه کار کوی، خو په ځانګړی ډول دښوونی او روزنی په دفترونو او ارګانونو کی چه دآزاد هیواد د وجود د ملا تیر تشکیلوی، زمونږ د مامورینو او معاش خوړونکو شمیر زیات دی».

«په هر فکری او ایدیولوژیکی مکتب کی زمونږ تنخواه خوړونکی موجود دی، مونږ هغوی ته بیلی بیلی چارې او مسئولیتونه ور په غاړه کړیدی، هغوی دخپلو خپلو حکومتی نظامونو په ردو بدل کی ښه رول لوبوی، دهغوی دفعالیتونو په وجه مربوطه هیوادونه دسختو ستونزو سره مخامخ دی. دغه هیوادونه امن او سکون غواړی او د امنیت دټینګښت لپاره هر ډول قربانی ته تیار دی خو تر هغه چه هغوی زمونږ لوی حکومت په رسمی ډول ونه منی او زمونږ اطاعت ته غاړه کینږدی، مونږ به ورته ... ی او سکون اجازه ور

مقصد دا دی چه مونږ به غیر یهودیان ستړی کړو او دومره به ئی وزبیښو تر څو د خپلی مجبوری له مخی مونږ ته هغه نړیوال طاقت را په برخه کړی چه دهغه په وسیله وکولی شو چه بیله زور او تشدد څخه د نړۍ د هیوادو طاقت په تدریجی ډول له منځه یوسو او په خپل لوی حکومت پورې ئی وتړو، د اوسنیو حکمرانانو په ځاي به مونږ داسی کسان وټاکو چه دستر حکومت چارې په ښه ډول مخ په وړاندی بوځی او د صلاحیت او تنظیم ساحه ئی دومره پراخه وی چه د ګردی نړۍ د تسخیر په کار کی زمونږ ناکامی ناممکنه شی.»

« د اوسنۍ ټولنی د ټولو متفرقو قوتونو د را ټولولو او زمونږ په خپل لاس کی دساتلو لپاره به مونږ داسی حکومت جوړ کړو چه د قوت ارتکاز ئی په مرکز پوری تړلی وی.

مرکز به د نویو قوانینو د تنفیذ له لارې د خلکو سیاسی ژوند په ماشینی ډول چلوی، دغه قوانین به غیر یهودی ...انانو ته ورکړل شوی

مراعات او آزادی یو په بل پسی سلب کاندی، ددغه حکومت امتیازی ځانګرنه به هغه بی‌ساری مطلق العنانی وی چه زمونږ غیر یهودی پټ او ښکاره مخالفین به هر وخت او په هر ځای کی دغلط توری په شان له منځه وړلی شی.»

«زمونږ اقتدار به د نظم او ضبط دنقطی آغاز وی او د انسانی پرګنی خوښی او نیکمرغی به پکی نغښتی وی، د اقتدار د څیری شا وخوا به د طاقت شپول ولاړ وی او خلك به ددغه پټ طاقت له ویری حکومت ته دسر په ټیټولو مجبور وی، د هغوي په زړونو کی به یهودی اقتدار او حاکمیت ته د احترام سره سره له هغه څخه ویره او خوف هم موجود وی، حقیقی طاقت د هیچا له حقوقو سره معاهده او ژمنه نشی کولی، ان تر دی چه د الله له حقوقو سره ژمنی ته تیار نه دی- هیڅوك به ددغه طاقت له دسترخوان څخه دڅکی اخستو له پاره هغه ته د نزدی کیدو جرأت ونشی کولی.»

(نور بیا)

نصیحت

مه‌شه‌ دیر هوا پرست لکه‌ حباب
له‌ دغي هوا به‌ شي خانه‌ خراب

مرتبه‌ د سړي مه‌ غواړه‌ له‌ خدایه
چې یې لکه‌ ستوریه‌ خوروخاب

ستور په‌ یوی کېنې په‌ کیل برابر د رومي
ولی ته‌ له‌ شـرعي کوږځي ناصـواب

هر نفس چه‌ بې د خداي له‌ یاد و نغري
ګڼه‌ نغري سري سکروټي بې حساب

چه‌ دی بی خواب و خوراکه‌ نور څه‌ نه‌ زده
نـور په‌ کـومـه‌ چار بهتـرئی تـر دواب

د دوزخ په‌ عذاب ولی په‌ عذاب شوی
چه‌ د نس په‌ زیرمه‌ ګرځې په‌ عذاب

په‌ هـوا پسـې د نس سـر هوا مه‌ ځه‌
ځان به‌ ورك کړی لکه‌ برق په‌ دا شتاب

که‌ دلی سوال و ځواب کړی مرد هاله‌ ئی
چه‌ غلـط نه‌ شی هـوری په‌ سوال جواب

که‌ دلی تیرو بیر ته‌ شي په‌ حساب کی
هـوری نشتـه‌ تیرو بیر حسـاب کتاب

چه‌ سبا د هغه‌ کار په‌ حساب نیوشی
صاف کړه‌ نن له‌ ځان سره‌ هغه‌ حساب

په‌ دغه‌ لمانځه‌ نمانځه‌ نه‌ شی کا نځه‌ شی
چه‌ دي زړه‌ وی په‌ ریا مخ په‌ محـراب

هسی ځان ګڼه‌ روان له‌ دی جهانه
لکه‌ اوښـي د بنهو پا پـه‌ رکـاب

په‌ سبب د رزق د لګیر مه‌ شه‌ «حمیده»
ولـی شتـه‌ هغـه‌ مسبـب الأسبـاب

د وحدت چغه

د ارماني دزړه ارمان:

جهاد کامیاب شو مقابل کښې دروسانو
ای ښکلو غازیانو - راځئ سره یو ځای شئ

دخدای ددین لپاره تاسو جهادونه کړی
دپت ناموس لپاره تاسو هجرتونه کړی
داسلامی نظام مو ډیر ډیر آرمانونه کړی
آرمان پوره کړئ داسلام د شهیدانو
ای ښکلو غازیانو - راځئ سره یوځای شئ

داڅوارلس کاله کړاؤنه هیرولی نه شم
دا دشهید په وینو رنګ بڼ ورانولی نه شم
ددښمن ډك زړه له کینی خوشحالولی نه شم
داتحاد بیرغ اوچت کړئ قهرمانو
ای ښکلو غازیانو- راځئ سره یو ځای شئ

خلك مجبورشول په دوهم ځل هجرتونو باندی
دکابل ښار مودی وران کړی په جنګونو باندی
دسرو مرمو باران اوریږی په کورونو باندی
نور د تضاد خبری مه کوي ځوانانو
ای ښکلو غازیانو- راځئ سره یو ځای شئ

«ارماني» وائی جنګ جګړو کښی څه فائده نشته دی
ټول وي غمونه خوشحالی په کښی لحظه نشته دی
اتفاق وکړئ په نفاق کښی هیڅ مزه نشته دی
دخداي لپاره سره یو شی رهبرانو
ای ښکلو غازیانو راځئ سره یو ځاي شئ

د اسلامي امت ستونزې او د حل لارې

د م ـ «يوسفزی» اقتباس

د اسلام له برمه ډك تاريخ پدې خبره ګواه دی چه مسلمانانو تر کومه وخته د عليم او قدير الله او حقيقی مقنن د قانون پيروی کړې بريالی او سر لوړی، د ځمکی د سر خلفاء او د برم او عزت خاوندان وو، خو کله چه ئی الهی شريعت شاته غورزولی او په بشری موضوعی قوانينو پسی تللی او ظاهری موقتی مادی منافع ئی غنيمت ګڼلی، د پردو ځپېړ خواره او غلامان نړۍ جوړ شويدی.

الله تعالی چه حکيم ذات دی د خپل قديم علم په اساس پوهيده چه بشری عقل په يوازې ځان په تفصيل سره ددی توان نلری چه د ځان لپاره دې د دنيا او آخرت د نيکمرغی اسباب او وسايل تهيه کړی، پدی اساس الهی حکمت غالب شو او لوړه تقاضائی و-فرمايله چه د انسانانو د لارښوونی او روزنی لپاره انبياء او رسولان مبعوث کړی، څو هغوی انسانانو ته د کائناتو خالق، مالك، رازق او ريښتينی معبود ور وپيژنی او د خپل معبود عبادت او بندګی ته ئی را وبولی.

هغه وخت چه انسانان له خپل خالق او پالونکی سره قلبی اړيکی ومومی، د هغه اَوامرو او نواهيو او قوانينوته غاړه کيږدی او له هغه واحد او صمد ذات نه پرته له بل چا سره داسی قلبی اړيکی ونه ساتی چه د هغه قهار ذات د قهر او خپګان سبب شی، نو دی کی شك نشته چه دانسانانو د دنيوی او اخروی ژوند د سوکالی او نيکمرغی اسباب او عوامل به همدغه الله ورته برابر کړی.

د انبياؤ د دعوت پيل او د رسالت خلاصه، د بر حق معبود معرفت او پيژندل دی يعنی د هغه سبحانه وتعالی د اسماؤ، صفاتو، او افعالو او قوانينو پيژندل دی چه د رسالت مطالب او مفاهيم ټول د همدغه معرفت او پيژندنی په اساس سرته رسيږی، ځکه چه خوف او رجاء (ويره او اميد)، محبت او اخلاص، طاعت او بندګی ټول د همدغه محبوب او مطاع، معبود او مخوف د پيژندنی تابع دی.

الله تبارك وتعالی خپل امين پيغمبر ﷺ پداسی شرايطو کی مبعوث کړ چه د ځمکی د سر اوسيدونکی د جهالت په سمندر کی ډوب او د هغه ﷺ رسالت ته د آسمان له باران او د لمر له نورنه زيات اړ او محتاج وو.

حقيقت دادی چه دمحمد ﷺ په څير د يو امين استازی رسالت او پيغام رسولو ته د ځمکی د سر د اوسيدونکو احتياج او ضرورت له ټولو ضرورياتو نه خورا لوی او له ټولو احتياجاتو نه خورا اوچت شميرل کيده، ځکه چه د زړونو ژوند او خوښی او د انسانانو آرامی او سوکالی او سکون او اطمينان په هغه اندازه چه دخپل پروردګار او معبود او مطاع او فرمانروا او خالق له پيژندلو څخه حاصليږی له مادی نعمتونو او ظاهری لذا ينو څخه نه متصور کيږی.

الله تعالی د خپل وروستی پيغمبر

ﷺ په ژبه نړۍ‌والو ته خطاب کړی، فرمائی: «قل هذه سبيلی ادعوا الی الله علی بصيرة أنا ومن اتبعنی» او خپل پیغمبر ﷺ ئی د «سراج المنير» او «هادی الی صراط مستقیم» په عنوان معرفی کړی او بشریت ته ئی دا په داګه ښودلی چه بریالتوب او نیکمرغی د هغه چا په برخه دی چه د هغه نور اتباع او پیروی وکړی کوم چه په پیغمبر ﷺ باندی په پټه او ښکاره نازل شویدی.

هغه کسان چه په خپلو اختلافاتو او منازعاتو کی رسول الله ﷺ د قاضی او منصف په حیث ونه منی او د هغه ﷺ د پریکړو او اجراأتو تابع او منقاد نه شی، د مؤمن او مسلمان په حیث نه پیژندل کیږی.

هغه څوک چه د هغه په حقانیت او صداقت باندی الله جل جلاله خپله ګواه وی او د الله تعالی له خوا د انسانیت د کاروان د لارښوونی او هدایت په مقصد له کتاب او سنت سره مبعوث شوی وی، څنګه کیدلای شی چه هدایت او لارښوونه، فلاح او نجات د هغه له راوړل شوو (قرآن او سنت) نه پرته په بل ځه کی موجود وی. او څنګه امکان لری چه حقانیت او ریښتینوالی، رشد او هدایت د قرآن او سنت له واقعی مفهوم او مدلول نه په خارج کی او د هغه حمل په نا آشنا لغتونو او له حقیقت نه په لیری تأویلاتو کی ولټول شی او د قرآن او سنت حقیقی مفاهیم او معانی د ضلالت او د تجسیم او تشبیه دګمراهی په عنوان او حتی کفر او الحاد وګڼل شی.

رښتیا هم څومره لوی جنایت او عظیم ظلم دی چه هدایت او لارښوونه د حقیقت په خلاف او مجاز مخفی ګاه کی ولټول شی او واضح او ښکاره حقایق متروك او مهجور شی او مسلمه امت د رجالو د آراؤ او افکارو د مستو او طوفانی امواجو په څپو کی لامبو ووهی او ددی ټولو تیتو او پاشانو آراؤ او افکارو له هیبتناکو او وژونکو امواجو څخه د نجات او خلاصون لپاره کومه لاره هم متصوره نه وی.

سمه او ټیك خبره داده چه الله تبارك وتعالی په کامل ډول خپل دین په پیغمبرانو نازل کړی او خپل نعمتونه ئی پردوی باندی تمام کړل، لدی ټولو سره سره دا محال دی چه هغه هدف او مقصد، چه د هغه لپاره ئی مخلوق پیدا کړ او د هغه لپاره ئی انبیاء او رسولان مبعوث کړل او د هغه لپاره ئی کتابونه او صحائف نازل کړل او دهغه لپاره ئی قبله او د عبادت لوری تعین کړل او ددین او ملت بنسټ او تهداب ئی د هغو لپاسه کیښود، هماغسی ملتبس او مجمل پریږدی او د حق او باطل تر منځ امتیاز او توپیر ونکړی، حق دخپل حقانیت په خیر بیان نه او د باطل په ژبه ئی بیان کړی، څو نوبت دی ته ورسیږی چه حق د بشری ذهن محصول او د موضوعی قوانینو په زرنه کی ولټول شی.

آیاد انبیاؤ سردار محمد رسول الله ﷺ او اصدق الکتب د الله جلاله کتاب (قرآن مجید) ددی مقصد د تشریح او تفصیل د تبیین او توضیح لپاره په خورا ښه او بهترینه طریقه کافی ندی؟ پداسی حال کی چه انسانی نفس په هر حال کی هغه ته سخت اړ او محتاج دی. آخر دا څنګه امکان لری چه هغه پیغمبر چه د ورځنی ژوند او معمولی آدابو په هکله حتی بیت الخلاء ته له وتو او ننوتونه نیولی د خوراك، څښاك او جماع ګولو تر طریقو پوری ئی دوئ ته تعلیم ورکړی وی، خو یو داسی قانون او دستور چه د هغه په رڼا کی انسانان د خپل ژوند فردی او اجتماعی مشکلاتو ته خاتمه ورکړی، له ځان سره نه وی راوړی او انسانیت ته ئی نه وی وراندی کړی.؟

آخر ولی؟ څنګه ؟ پداسی حال کی چه هغه اعلان کوی چه : «ترکتکم علی البيضاء ليلها كنهارها لا يزيغ عنها إلا هالك» یعنی ای مسلمه امته! ما تاسی

پداسی رڼائی کی پرېښودئ چه د هغی شپه او ورځ (په رڼائی کی) یو ډول دی او له کوږ زړو او کوږ فکرونه پرته به ځوك تری انحراف ونکړی.

او داسی آواز کوی چه: (مابعث الله من نبی إلا کان حقا علیه أن یدل أمته علی خیر ما یعلمه لهم و ینهاهم عن شر ما یعلمه لهم».

یعنی الله تعالی هیڅ پیغمبر ندی رالیږلی مگر دا چه خپل امت او پیروانو ته د هغو خورا ښو ځیزونو لارښوونه وکړی چه ورته تعلیم ورکړ شوی دی او له هغو بدو ځیزونو ځخه ئی منع کړی چه ورته ویل شوی دی.

ابو ذر (رضی الله عنه) فرمائی: زمونږ گران پیغمبر حضرت محمد مصطفی ﷺ پداسی وخت کی له دنیا نه رحلت وکړ چه هغه ضروری او لازمی ځیزونه ئی انسانانو ته بیان کړل کوم چه انسانان ورته په خپل ژوند کی اړ او محتاج دی، حتی دهغه مرغه په هکله ئی هم مونږ ته معلومات راکړی چه د خپلو دوه وزرونو په واسطه په آسمان کی الوزی.

«عمر ابن خطاب (رضی الله عنه) فرمائی : د اسلام پیغمبر ﷺ یوه ورځ مونږ ته خطبه راکوله، د کائناتو او مخلوقاتو د پیدایښت د آوایلو او ځرنگوالی په هکله ئی خبری کولی، د موضوع په شاو خوا ئی داسی کلی او جامع بحث وکړ چه د جنت مستحق جنت ته داخل شول او دوزخیان دوزخ ته ننوتل له حاضرینو ځخه ځینی داسی کسان وو چه د پیغمبر ﷺ دا بیان او وینا ئی په خپلو اذهانو او زړونو کی حفظ کړه او چا هم دا وینا هیره کړه، (دغه اثر بخاری په خپل کتاب کی راوړی دی).

نو هغه کسان چه د اسلام له حقیقت او د هغه له لوړو تعالیمو ځخه په ښه توگه آگاه دی، او ددین په برخه کی ئی له اسلامی درك او بصیرت او د زړونو له اخلاص او د ضمیرونو له عمق ځخه سر چینه اخیستی، په شرق او غرب کی به د مسلمانانو له فلاکت بار او شرموونکی حالت ځخه، چه د شرقی او غربی استعمارچیانو له خوا له تذلیل او تحقیر او توهین او رسوائی سره مخامخ دی، تعجب ونکړی؟ ځکه همدا مسلمانان دی چه د استعمارچیانو د ظفر او بری اسباب او داستعمار زمینه او شرایط ئی برابر کړی دی، تر دې پورې چه استعمار د مسلمانانو مځکه او آسمان او لمده او فضائی تر خپلی سلطی او واکمنی لاندی راوستی او هغوی (مسلمانان) هر ډول چه غواړی استعماروی ئی او خپلی غلامی ته ئی را کاږی، لکه ځنگه چه د هغوی ښکاره نمونی په فلسطین، بوسنیا او په وینو لړلی افغانستان کی لیدل کیږی.

د پرون ورځی هغه ټول عظمت او شان او شوکت او دبدبه نن یوازی او یوازی د داستان او کیسو په شکل چه د اوښکو له ځاځکو سره یو ځای د مسلمینو پر مخ بهیږی نور ځه ندی پاتی.

ددی ټول ذلت او مسکنت او غلامی او بردگی او زبون حالی او پریشانی اصلی او اساسی علت له الهی قانون (قرآن او حدیثو) ځخه د مسلمانانو سر غړاوی او تیری او په خپلو منځو کی حقد، حسد، کینه، عداوت او دښمنی او یو له بل ځخه دمختلفو ډلو او احزابو په شکل افتراق او جلا کیدل او یو له بل سره خصومت کول دی او بس، پداسی حال کی چه ددوی دین دوئ ته د الفت او محبت، دوستی او ورور گلوی او په سوله کی د گډ او اجتماعی ژوند امر کوی، آیا په جماعت باندی د پنځه وخته لمونځونو د مشروعیت او د جمعی او د اخترونو د لمونځونو د وجوب او د بیت-الحرام دحج د فرضیت مقصد د مسلمانانو تر منځ د مینی او الفت او دوستی او اتحاد او یووالی له ایجاد نه پرته کوم بل شی کیدای شی؟ ښکاره ده چه بیله دی بل مقصد نشته.

هوکی، د صدر اول مسلمانان ددی

اجتماعاتو په اهمیت پوهیدلی وو او د هغوی قدر ئی پیژانده، د هغوئ ارزښت لرونکی او ثمر ښښوونکی نتایج او آثار ئی په خپلو حواسو لمس کړی وو، پدی خاطر ئی همیشه ددی اجتماعاتو د بقاء او دوام لپاره هڅه کوله او په هغوئ کی ئی د هر ډول احتمالی پیښو او درزونو او سوریو مخنیوی کاوه او ټولو په هغی نه شلیدونکی او کلکی رسۍ باندی منګولی لګولی، پدی اساس د هغوی له شان سره وړۀ چه د هغوی د حکومت او سلطنت پیاوړی ونه د ځمکی او هستۍ پر مخ ریښی وځغلوی او د قسط او عدل او انصاف وزرونه، د امتونو او ملتونو او اقوامو او عشایرو په منځ کی وغوړوی، یقیناً ئی همداسی وکړل او دنیا ته ئی وښودل چه اسلام څنګه دین دی؟ او مسلمان څنګه امت دی؟ او په اسلام کی حکومت د څه شی پر اساس دی؟

خو افسوس چه وروستیو نسلونو د خپلو اسلافو او نیکونو په منتخبه مسیر او خط باندی حرکت ونکر او د خپلو تیر شویو له منهج او خط السیر څخه ئی تخلف وکړ، نه یوازی دا چه پخپله اسلام او اسلامی ملت ته د خیر او سیګنی مصدر نه شول، بلکه هغه نتایج او مجد او عظمت چه ددوی اسلافو او تیر شوو د خپلو سرو وینو په تویولو او د خپلو خوږو ځانونو په ځیرولو سره لاسته راوړی ؤ، هغه ئی هم له لاسه ورکړ او د اسلام او انسانیت دښمنانو ته ئی وسپاره.

دغه وروستی نسل د ښه او بد تمیز ونکړ او یوازی د قشر (پوستکی) او دیو شمیر نا څیزو او معمولی ظواهرو په لاسته راوړلو ئی اکتفاء وکړه او د اصل او مغز او اساس په حصور او کسب پسی ئی هڅه ونکړه او پدی لار کی ئی تکلیف قبول نکړ او د کتاب الله او سنت الرسول (چه دده د هدایت او لار ښودنی لپاره راغلی وو) پیروی ئی ونکړه او سر ئی ترې وغړاوه، ددی نتیجه دا شوه چه له ډول ډول مصیبتونو او کړاوونو سره مخامخ شول، اضطراباتو او پریشانیو له هری خوا دریچاړ کړل، نو ځکه نن د مرګ او ژوند تر منځ په کشمکش کی لاس او پښی وهی، نه داسی ژوندی دی چه د رجاء او امید وړ وی او نه داسی مړه دی چه ددوئ په میراث پسی له سترګو نه اوښکی توئی شی.

هوکی، په پوره باور سره ویلای شو هغه مصائبب او کړاو نه چه د افغانستان او یا د نړی د نورو نقاطو مسلمانان ورسره مخامخ دی او هره ورځ د هغوی پر حجم باندی زیاتیږی دا د طواغیتو او زور ګویانو په مقابل کی د امر په معروف او نهی له منکر نه د سکوت او چوپوالی په نتیجه کی ؤ او دی، که علماء او څه ناڅه پوه اشخاص ددی ایمانی او وجدانی مسؤلیت په اهمیت پوهیدلای او ددی مسئولیت د رفع کولو پخاطر ئی د همت ملا تړلی وای او له حقی او مستقیمی جادی نه منحرفین ئی په هر شکل او لباس کی چه وای – له ملا او مولوی څخه نیولی تر پیر او مرید او صوفی او خانقا نشین او معلم او متعلم او آمر او مامور پوری ئی- سمې او الهی لارې او مسیر ته رهنمائی کړی وای، شك نشته چه نن به ګران اسلام په افغانستان او د نړۍ په نورو نقاطو باندی حکومت کاوه او هیچا به د محارمو د استحلال او انتهاك جرئت نه شو کولای او ټول به د هغه حدودو او محارمو ساتونکی او پاسدران وای کوم چه الله تعالی او دهغه رسول ﷺ ټاکلی وو. که مسلم امة عموماً او د افغانستان ملت خصوصاً دمسلمانانو له موجودی ځوروونکی وضعی-څخه دعبرت درس وانه خلی اوپه خپلو عقایدو او اعمالو کښی له قرآن او سنت سره سم بدلون رانه ولی، دی کی شك نشته چه زمونږ هره ورځ به له بلی بدتره او هر راتلونکی زمامداربه موله تیر شوی څخه خورا ظالم او دبدی ورځی خاوندان به یو، الله تعالی دی زمونږ عقاید،اعمال او اقوال دقرآن او سنت مطابق کړی (آمین یا رب العالمین)

والسلام علی من اتبع الهدی.

پیام به برادران مؤمن ورهروان نهج أنبیاء و سلف صالحین

نحمده ونصلي على رسوله الكريم وبعد:

الله تبارك وتعالى ميفرمايد: «ولتكن منكم أمة يدعون الى الخير و يأمرون بالمعروف وينهون عن المنكرو آولئك هم المفلحون» (آل عمران/١٠٤)

ترجمه :و باید که باشد از شما گروهی که بخوانند بسوی نیکی و بفرمایند بکار پسندیده و منع کنند از نا پسندیده و آن گروه ایشانند رستگاران.

عن حذيفة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال :«والذي نفسي بيده لتأمرن بالمعروف و لتنهون عن المنكر او ليوشكن الله أن يبعث عليكم عقاباً منه ثم تدعونه فلا يستجاب لكم» رواه الترمذي

ترجمه: حذیفه رضي الله عنه از پیامبر صلی الله علیه وسلم روایت میکند که فرمود: «سوگند بذاتیکه نفسم در حیطهء قدرت اوست همانا بکارهای پسندیده امر نموده و از کارهای نا پسندیده منع میکنید یا نزدیك است که خداوند بر شما عذاب از نزد خویش بفرستد و سپس اورا بخوانید و او دعای شما را ایجابت نکند.

برادران مؤمن و رهروان نهج انبیاء و سلف صالحین!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

حمد و ستایش مخصوص الله تبارك و تعالی است، ذات اقدسیکه ملت مظلوم و مستضعف افغانستان را یاراي آن ساخت تا با نیروي ایمان و روحیه سر شار جهادي، خون آشام ترین و ددمنش ترین قدرت استعماري جهان را در مرز وبوم اسلامي افغانستان به زانو در آورند و درس توحید وتقوی الله و آزادي وخود ارادیت و استعمار شکني را به همهء ملل ستمدیده تحت استعمار بیاموزن؛

درین برهه حساس تاریخ که جهاد مقدس در کشور اسلامي ما به پیروزي رسیده و مجاهدین اسلام بر سر نوشت میهن عزیز خویش تسلط دارند، همه مسلمانان مجاهد بویژه برادران مجاهد اهل حدیث مکلفیت دارند مبارزه اصلاح، صلح و اخوت بناء بر مسؤلیت اسلامي و دعوتی شان در سر زمین اسلامی ادامه بدهد وهمچنان جدو جهد در مقابل کفر و الحاد و نظامهای جاهلی ادامه داده سرنوشت ملت مسلمان افغانستان را بر اساسات قرآن وسنت پایه گذاري نمایند.

حقیقت مسلم اینست که اسلام تابع مرزهای جغرافیائی نمیباشد و اسلام این دین برحق الهي را که برای حاکمیت بر کره زمین از طرف آفریدگار کاینات بر گزیده شده، نباید در حیات یك کشور محدود ومقید سازیم.

اگر به وضع اندوهبار ملل جهان

نظر افگنیم، در خواهیم یافت که انسانیت مظلوم وستمدیده امروز بیش از هر وقت دیگر آبستن یك انقلاب ناب اسلامي مبني بر اساسات ارفع قرآن وسنت میباشد و بر مسلمانان هدفمند است تا پیام نجات بخش توحید را به اطراف و اکناف گیتي برسانند، یك مجتمع اسلامی را قایم نموده و بوسیله آن ملل مستضعف مسلمان و تحت اسارت را از چنگال خونین استعمار و استکبار جهانی رهائي بخشند.

تاریخ اسلام گواه این حقیقت است که سلف صالحین بحیث دعوتگران اصیل دین مقدس اسلام، تعلیمات قرآن و سنت نبوی صلی الله علیه وسلم را به جهانیان رسانیده وطي سفرهای صعب العبور دعوت اسلامي، زحمات ومصائب طاقت فرسا را متحمل شده اند.

برادران مؤمن وهدفمند! سپاهیان سنگر توحید!

الله تبارك وتعالی راز پیروزي اسلام را در اتحاد و اخوت شما نهفته است اتحاد یکه از سر چشمه ایمان و تقوی منشأ گرفته باشد، اتحادیکه باعث تألیف قلوب مؤمنین باشد و اتحادیکه رسالت عظیم رهبری جهان را به اهل آن یعني علمبرداران قرآن وسنت تفویض دارد. احدی ازین حقیقت چشم نخواهد بست که عصر قیادت اهل حدیث، دوران طلائي تاریخ اسلام وعروج مسلمانان را تشکیل میدهد.

اگر هلاکو شهر بغداد را به خاك وخون کشید، دعوت گر توحید و رهرو سلف الصالحین امام ابن تیمیه (رحمه الله) به مسلمانان درس دعوت و جهاد آموخت و اگر جلا دان هندی طرح مذموم قلع وقمع مسلمانان را ریختند، احمد شاه ابدالي بتأسي از پیام شاه ولي الله دهلوی رحمه الله، علاوه از دعوت اسلامی علم جهاد مقدس را بر-افر اشت و دشمنان اسلام را درنیم قاره هند با شکست و رسوائی ننگین مواجه ساخت و آن زمانیکه عرصهٔ زندگی برای مسلمانان پنجاب، بنا بر ظلم وستم سکان افراطي وجاه طلب تنگ تر گردید، دعوتگران مؤمن چون سید احمد شهید و سید اسماعیل شهید مسلمانان را به جهاد مقدس فرا خواندند که در نتیجه مبارزات پیگیر و خستگی ناپذیر این دعوتگران اصیل توحید، کشور اسلامي پاکستان بر گیتی عرض اندام نمود. و آو اینکه اهریمن الحاد و دهریت، افغانستان عزیز را تهدید میکرد و بیم آن میرفت که این خطه اسلامي در نتیجه غفلت وسهل انگارهاي مسؤلین بي کفایت امور بکام استعماري روس فرو رود وتشخص اسلامي و مستقل کشور ما پایمال گردد، عالم مسؤلیت شناس ومؤمن نامي میهن، شهید شیخ جمیل الرحمن رحمه الله از کوه پایه های هندوکش صداي پر عظمت دعوت وجهاد را بلند کرد و در حالیکه دریك دستش قرآن و در دست دیگرش تفنگ بود، علیه استیلای ایدیولوژیکي روس بر کشور ما و ظلم وفساد و رجحانات لادینیت والحاد در کشور بر خاست و طي بیانیه ها و مواعظ دانشمندانهٔ شان مردم را از عواقب وخیم ونتایج نا گوار وضع نابسا مان آن زمان کشور آگاه ساخته مسئولیت ها و مکلفیت های دیني شانرا برای شان برمی شمرد.

شهید مولوی جمیل الرحمن رحمه-الله نخستین شخصیت متعهد ومبارزي بود که پس از استقرار رژیم کمونیست و یورش قشون سرخ بر کشور ما، عَلَمْ جهاد مقدس را علیه کفار متجاوز و مزدوران شان بلند نموده و با دست خالي اما به اتکاء به نیروي ایمان وحقانیت اسلام عزیز، کوه هاي سربه فلك کشیده کنر را بحیث نخستین پایگاه هاي جهاد مقدس اعلام کرد و از همین نقطه به جهاد مقدس علیه روسهای متجاوز و ایادي ملحد شان آغاز کرد و از همین حیث استکه اعزاز و افتخار آغاز

جهاد مقدس در افغانستان نصیب برادران مجاهد اهل حدیث وسنگر-داران دلاور توحید است.

هکذا ملت مؤمن ما شاهد است و امت مسلمه نیز ازین حقیقت چشم نخواهد پوشید، هنگامیکه پیروان صدیق سلف صالحین و دعوت گران قرآن و سنت در افغانستان به زعامت داهیانه شهید اسلام و امام الجهاد شیخ جمیل الرحمن رحمه الله بر خطهٔ کوچك و محدود ولایت کنر تسلط یافتند و تمامي مجاهدین ولایت کنر پس از آنکه ولایت کنر این نخستین پایگاه جهاد مقدس را از نیروهای طاغوتي آزاد ساختند، زیر پوشش یك اتحاد واقعي بسیج شدند، بخاطر قیام یك مجتمع سرتاسری اسلامی اولین اقدام تاریخي شان اعلام امارت اسلامي وانفاذ قانون قرآن وسنت بود.

امارت اسلامي کنر در حقیقت مظهر گویاي اخلاص مجاهدین اهل-حدیث به اسلام وتابعداري کامل شان از نظام قرآن و سنت میباشد و افادیت این امارت به همگان ثابت است.

کشورهاي اسلامي که در آن زمان از حکومت مؤقت مجاهدین پشتیباني میکرد، زماني سیاست و پالیسي شانرا مورد تجدید نظر قرار دادند که مسؤلین حکومت موقت آرزوهای ملت مسلمان را بر آورده نتوانست و مشاهده کردند که این دولت در مدت طویل چهارده سال نتوانست در گوشه اي از سر زمین هاي آزاد شده نظام اسلامي را نافذ سازد وکنترول منطقه کوچك را در دست داشته باشد.

برادر شهید ما امام الجهاد شیخ جمیل الرحمن بحیث داعي مخلص اسلام و مجاهد صف اول که آرزوئی جز تعالی اسلام و اتحاد بین المسلمین را نداشت، عواقب بي اتفاقي بین تنظیم هاي جهادی را وخیم مي شمرد و از همهٔ رهبران تنظیمات جهادي دعوت بعمل آورد تا در پلیت فارم یك ارکان واحد شرعي با هم بسیج شوند و اختلافات ذات البیني شان را در پرتو قرآن وسنت حل وفصل نمایند و گرنه سازشهای بین المللي علیه نهضت جهادي افغانستان کار گرمي افتد.

رهروان راه أنبیاء کرام وسلف الصالحین! مجاهدین في سبیل الله و همه آنانیکه باسلام عشق مي ورزند! با خویشتن محاسبه کنید و نخست از همه به کشور به خون خفته تان نظر افگنید که چگونه ایثار وفداکاري چهارده ساله تان، خون شهداي گلگون کفن تان و افتخارات جهادي تان با خطر به هدر رفتن مواجه است وشاید جزئی ترین غفلت و اهمال شما باعث آن گردد که جان فشاني ها و فداکاریهاي دوران جهاد تان را که بخاطر استقرار نظم الهي و انفاذ قرآن وسنت در کشور نموده بودید و مقام مکرمیکه نزد الله تبارك وتعالی و جامعه بین المللي و تاریخ معاصر نصیب تان شده بود در نتیجه بي-اتفاقي و از هم پاشیدگی شما هبئًا منثورا گردد و نزد پروردگار غالب تان و تاریخ و نسل های آینده کشور تان مسئول قلمداد گردید.

به جهان نظر افگنید که ناله و فریاد مسلمانان مظلوم و ستمدیده از هر نقطه جهان بلند است و از برادران مسلم شان کمك و استمداد مي طلبند.

مسلمانان بوسنیا مورد بیداد ووحشت صربي هاي کافر قرار دارند وصربی های لا دین بی رحمانه نسل کشی مسلمانانی را به جرم اسلام پیش روی امت اسلامی و جهان ادامه میدهد ومسلمانان کشمیر با أصنام پرستان هندي دست وگریبان اند.

موحدین الجزایر در پشت میله-هاي پولادین زندان رژیم استبدادي آن کشور بسر مي برند، مسلمانان مظلوم زمین محتله قدس زیر ظلم ووحشت یهودیها بسر میبرد وعدهٔ زیادی از مسلمانان بی گناه هرروز بشهادت میرسند، در تاجکستان بار دیگر کمونستها به قدرت میرسد ومسلمانان علم جهاد را بلند میکند و کشورهاي مسلمان نشین آسیاي میانه به دعوت اسلام نیاز مبرم دارند. نیروهاي طاغوتي و ضد اسلامي از پیشرفت و ارتقاي روز افزون اسلام در هر اس اند و از همین جهت از هیچگونه ظلم ووحشت علیه مسلمانان بي دفاع دریغ نمي ورزند.

با در نظر داشت شرایط کنوني جهان ووضع انوهبار مسلمانان، از همهٔ برادران مؤحد وشیفته گان قرآن وسنت وهمه آنانیکه آرزوئي جز پیروزي اسلام در جهان ندارند و منافع علیاي اسلام براى شان نسبت به همه چیز شان ارجح و مقدم است دعوت بعمل می آوریم تا بخاطر غلبه نور بر ظلمت و پیروزي حق بر باطل، بخاطر شکست وهزیمت طاغوت وپیروزي اسلام، کلیه منافع شخصي و گروهي شانرا پشت سر گذاشته با کاروان عظیم دعوت سلف صالحین متحد شوند، بطور یك پارچه و متحد بخاطر انفاذ قرآن وسنت جهد ومبارزه کنند و مسئولیت قیادت و رهنمائی مسلمانان را به وجه احسن ایفا نمایند.

میدانیم که بنیه اقتصادي نهضت اهل حدیث افغانستان ضعیف بوده و نسبت عدم موجودیت منابع کومك‌دهنده با بحران شدید اقتصادي مواجه میباشد اما بحمد الله که بنیان عقیدوی این تحریك بسا مستحکم و تزلزل نا پذیر بوده و غربت اقتصادي ما باعث فقر عقیدوي وایماني ما شده نمیتواند.

ما عقیده داریم که دعوت بسوي الله، وا داشتن به نیکوئی ها و باز داشتن از نکوهیده ها (امر بالمعروف ونهي عن المنکر) و جهد و مبارزه بخاطر ترقي وتعالی اسلام وانفاذ قانون الهي بر صفحه گیتي، با چگونگی وضع اقتصادي نهضت توحیدي بستگی ندارد و یقین کامل داریم که داعیان با ایمان و متقي مسئولیت هاي دیني شانرا در جهت رفع اختلافات تنظیمها و اقوام و ایجاد یك اتحاد واقعي و همچنان دعوت بسوي الله را بدون در نظر داشت متاع دنیوي ایفاء خواهند کرد، دعوتگرانیکه بسلاح ایمان وتقوی آراسته باشند، حق دعوت بسوٌ الله و دعوت بسوی اتحاد واقعي را بوجه احسن ایفا کرده میتوانند زیرا ایمان وتقوی سر چشمه ایجاد اتحاد و بزرگترین و سیله رفع اختلافات بین المسلمین میباشد و اتحادیکه بدون استمداد از ریشه اخلاقي وعقیده اي بمیان آید و ملاك و معیار آنرا مال ومتاع دنیوی تشکیل دهند کاملاً بي‌اثر و زود از بین رفتني است.

توقع ما از همه برادران داعیان سلفي در هر گوشه وکنار که سکونت داشته باشند وقلوب شان از محبت الهي وعشق دعوت توحید سر شار بوده اینست که بیایید وهمه عوامل ایجاد اختلاف و پراگندگی را در پرتو ایمان وتقوی و روحیه اقدس جهادي تضعیف نمائید، گروه ها و تنظیم‌هاي مختلف را که همهٔ شان بنیان واحد توحیدی دارند و اما بطور پراگنده بخاطر نفاذ قرآن وسنت مبارزه میکنند زیر پوشش ارکان واحد شرعي با هم ملحق ومتحد سازند.

آرزوي ما اینست که:

۱- برادران اهل حدیث همه ولایات کشور باهمه روابط نزدیك حضوری و کتبي داشته باشند.

۲- برادران اهل حدیث در هر ولایت باید کمیته واحد ولایتي را تشکیل داده سوانح مکمل شانرا ترتیب وثبت دفتر ولایتي کنند وبسطح هر ولایت امیر، نائب امیر و اعضای کمیته اجرائیه را تعین نمایند.

۳- دفاتر ولایتي باید با کمیته ارتباط جماعة الدعوة الى القرآن والسنة افغانستان روابط داشته باشند.

٤- کمیته هاي ولایتي تجاویز و پیشنهادات مثمر شانرا به کمیته ارتباط جماعة الدعوة ارائه دارند.

٥- کمیته ارتباط جماعة الدعوة پس از مشوره با کمیته هاي ولایتي، کمیته اي را جهت تدویر اجتماع بزرگ اهل حدیث افغانستان تشکیل میکند، درین اجتماع لایحه فعالیت هاي مشترك نهضت اهل حدیث در افغانستان و پخش دعوت الى الله در آسیاي میانه را مورد بحث وگفتگو قرار خواهد گرفت و مطابق آن فعالیت هاي نهضت اهل حدیث در افغانستان و کشور هاي آسیاي میانه آغاز خواهد شد.

یاد آوري: آن عده از برادرانیکه این پیام اتحاد و اخوت بدسترسش قرار میگیرد روي مسئولیت دیني شان باید آنرا به سایر برادران نیز برسانند، وهمچنان با کمیته ارتباط جماعة الدعوة الى القرآن و السنة افغانستان تماس بگیرد.

(وما علینا إلا البلاغ)

ژورنالیستي درسونه

خبر

پیژندنه

خبر د ټولنیزو اړیکو لومړنی ماده ده نو ځکه ورځپاڼه لیکونکی په عام ډول او خبریال په ځانګړی توګه باید له هر څه نه وړاندې خبر و پیژني او د هغه له مفاهیمو او عناصرو سره آشنا شي تر څو و کولی شي دمسلکي پوهې په رڼا کې د خبر موندلو او خبر لیکلو لپاره قدم پورته کړي.

لومړۍ برخه: د خبر مفاهیم :-

د خبر لپاره بیلا بیل مفاهیم وجود لري، په لغوی توګه د خبر ټکی چه اوس په پښتو او فارسی ژبو کی استعمالیږی له عربي څخه اخستل شوی چه په اروپائی ژبه کی ورته ټکی Inrmation دی چه بیلا بیلی معناوی لري:

کله کله دغه کلمه ځانګړی حقوقی معنا لري چه هدف ترې په جرم د تورنو کسانو په باب د قضائی او جزائی معلوماتو را ټولول دی او کله د ځانګړی امنیتی مفهوم لپاره پکاریږی او سیاسي او نظامي اطلاعات په دغه لړ کی د یادولو وړ دی.

په عمومی محاورو کی، خبر د هغو اعلاناتو او اطلاعاتو څخه عبارت دی چه د ټولني وګړی ئی د خپل ګډ ژوند په باب لاسته راوړی او په همدغه وجه هر وخت یو له بل سره ګوری او بی له ځنډه د یو بل دحال پو ښتنه کوی او «تازه خبر» را ټولوی او د روانو چارو په باب خبری اتری او قضاوت کوی په دی بناء د چاپیریال د پیښو په باب د خبر عمومی ضرورت ددی باعث کیږی چه وګړی پلټنه زیاته کړی او د هغو پیښو څخه د خبرتیا لپاره چه په مستقیم ډول ور څخه خبر نه دی مطبوعاتو ته مخه کوی.

په دی ډول د ټولنیزو ارتباطي وسایلو ستره وظیفه د اطلاعاتو پلټنه او راټولول او خلکو ته د هغو رسول دي، په همدې بناء ټول هغه اعلانات او اطلاعات چه مطبوعات ئی خپلو لوستونکو، اوریدونکو او لیدونکو ته وړاندې کوی، خبری جنبه او حیثیت لري.

اوس چه د خبر بیلا بیلی معناوی او مفاهیم د حقوقی، لغوی او ټولنیز لحاظه څرګندی شوی باید د هغه دقیقه معنا د مطبوعاتو په قاموس کی هم وټاکل شي.

د ټولنیزو اړیکو بیلا بیلو پوهانو او د ورځپاڼه لیکنی د کتابونو لیکوالانو د مطبوعاتي خبرونو لپاره بیلا بیل تعریفات غوره کړی دی چه مونږ ئی دلته په څو مثالونو بسیا کیږو.

و.ج. بلا یر امریکائی ورځپاڼه ـ لیکونکی پخپل کتاب (ورځپاڼه لیکنه News Paper writing

and editing کی خبر د هغې روانی پیښې او موضوع په حیث تعریفوی چه زړه راکښونکی وي او د خلکو دپاملرنی د راجلبولو لپاره په مطبوعاتو کی خپور شی.

میچل وی چارنلی د امریکا د مینوټا په پوهنتون کی د ورځپاڼه لیکنې استاد په خپل کتاب څبر لیکنه Reporting کی لیکی چه خبر د یوی پیښی مناسب، لنډ او ژور بیان دی خو پخپله پیښه نه ده.

د پورتنیو تعریفاتو له څیړنی څخه څرګندیږی چه د خلکو لپاره د پیښو نوښت او په زړه پوری والی د خبر پیژندنی تر ټولو مهم بنسټ دی. په بل عبارت ټولی پیښی پخپله خبری حیثیت نه لری او هغه څه چه خبري ارزښت پیدا کوی هغه اهمیت او اعتبار دی چه ټولنه ورته قایله ده، په دی بناء د خلکو لپاره د پیښی نوښت او په زړه-پوری والی د خبر څیړنی تر ټولو مهم معیار ګڼل کیږی.

په لنډه توګه د پورتنیو تعریفاتو په رڼا کی د مطبوعاتی خبرونو جامع او هر اړخیز تعریف په دی ډول وړاندی کیږی:

خبر، د ټولنیز ژوند د مهمو او په زړه پوری پیښو د اعلان او بیان او د عمومی افکارو او عقایدو له څرګندولو څخه عبارت دی.

ددغه تعریف له څیړنی وروسته لاندینی عوامل له یو بل څخه بیلیږی.

۱- د پیښې اعلان: هره واقعه له پیښیدو او د خلکو له خبرتیا نه وړاندی نا پیژندونکی ده او یوازی هغه وخت خبری حیثیت پیدا کوی چه دا څرګنده شی او نورو ته ښکاره شي، په حقیقت کی خبر د یو ناڅاپی کار اعلان دی او ثابت او نه بدلیدونکی کارونه خبری حیثیت نه لری، نو بس هغه وخت چه په موجوده او ثابته وضع کی تغیر او تحول را منځته شی او یا د پخوانیو تحولاتو په باب اطلاعات را ورسیږی خبر تري پیدا کیږی چه باید بي له ځنډه خپور شی. په دی ډول له نویو پیښو څخه بی له ځنډه د خلکو خبرول او یا د پخوانیو پیښو په باب د نویو معلوماتو خپرول خبر ګڼل کیږی، د ساری په توګه ویلی شو چه د کابل په ښار کی د یوی پنځه پوړیزی ودانۍ شته والی یوه عادی خبره ده او هیڅ خبری ارزښت نه لری په داسی حال کی چه د یوی لوئی پنځوس پوړیزې ودانۍ موجودیت به د کابل په ښار کی یوه نوی پیښه وی چه خبری ارزښت لری او په مطبوعاتو کی د خپریدو وړ ده. په همدی ډول که د لرغونو ودانیو نخښې نښانی را څرګندی شی نو څنګه چه پیژندل ئی یوه تازه خبره ده د اهمیت وړ ده او باید دعامی خبرتیا له پاره ئی خبر خپور شی.

په دی اساس د خبر موضوع هغه ده چه یوازی اوس پیدا شوی او له پیدایښت نه وروسته بي له ځنډه لاسته راغلی دی، ځکه خو مطبوعاتي خبرونو ته په اصطلاح کی «نوي» (News) هم وائی او ارتباطي وسایل یوازې نوی مطالب او مسایل د خبر په توګه خپروی.

۲- لومړنی بیان او تشریح: له نویو پیښو څخه د خلکو دخبرتیا له پاره یوازی د پیښي د رامنځته کیدو اعلام پوره نه دی بلکه د پیښي څرنګوالی هم باید شرح شی تر څو د خبر مفهوم او ارزښت و پیژندل شي او د لوستونکو او اوریدونکو غوښتني پوره شي.

په همدی دلیل د هری پیښی د اعلان سره سم بی له ځنډه د هغې د را منځته کیدو صحنه او شرایط او علتونه ئی تشریح کیږی او په پیښه کی ګډون لرونکی او د هغې تر آغیزی لاندي راغلي کسان په ګوته کیږی د مثال په توګه د یو دفتر د رئیس د ځان وژنې اعلان بي له شرحي پوره نه دي بلکه د پیښي څرنګوالی او دلایل ئی هم باید څرګند شي.

نوی ارتباطي وسایل لکه اژانسونه او رادیو له یوی پیښی څخه د خبریدو

سره سم، هغه په چوکۍ سره په لنډ ډول اعلاموي او وروسته پوره او مفصل جریان خپروي، د مهمو خبرونو لنډیز د راډیوئي او تلویزیوني خبري خپرونو په سرکي او تفصیل ئي په وروستۍ مرحله کې د پیښو د تشریح اهمیت ډیر ښه روښانه کوي، لنډ خبري عنوانونه د ورځپاڼو د مطالبو او مسایلو په سرکي، د پیښی د اعلان او په چوکۍ سره د لوستونکو د خبرتیا له پاره خپریږي او د خبر متن چه دعنوان څخه په لاندی برخه کې چاپیږي د پیښی جریان وړاندې کوي.

۳- سترګو لیدلی پیښه: خبر د تل لپاره د یوی سترګو لیدلی پیښی پیژندونکي دی او که پیښه را منځته نشي خبر نه پیدا کیږي، په دی اساس هغه پیښې خبر ګڼل کیږی، چه حقیقت ولري او خیالی او افسانوی بڼه ونه لري.

باید وویل شي چه د ناول او رمان په شان غیر واقعي مطالب او داستانونه یوازې د خلکو د مصروفیت لپاره په مطبوعاتو کی خپریږی او د ارتباطي وسایلو د خبری نقش څخه چه د هغو تر ټولو مهم ټولنیزه وظیفه ټاکي ډیر لیری دي، په دی ډول د پیښو حقیقت د خبر جوړولو تر ټولو مهم اصل دي او دغه اصل ایجابوی چه خبریال به هیڅکله د پیښي په

ماهیت کی له ځانه د خالت او تصرف نه کوی او باید په پوره بې طرفي سره د مأخذ یا د رسمي نطاقانو او د باوری محافلو نظر یوازې د خبرو د واقعیت د اصل د مراعات کولو لپاره په نظر کی نیول کیږی او خپریږي.

٤- دپیښي په زړه پوری والي:

د پیښو حقیقت، لکه څنګه چه وړاندی وویل شول د خبرونو له ضروری شرایطو څخه شمیرل کیږی خو کافي شرط نه دی او باید له دغه شرط نه وروسته دپیښو په زړه پوری-والی هم باید په نظر کی ونیول شی. د پیښو په زړه پوری والی تل له هغه څخه د خبریدونکو کسانو د پاملرني په اساس ټاکل کیږي په همدی اساس د ارتباطي وسایلو خبریال مکلف دی چه په خپلو خبرونو کی د خپلو لوستونکو، اوریدونکو او کتونکو غوښتني او مینه او علاقه په نظر کی ونیسي او هغه څه خپاره کړي چه د خلکو اکثریت ورسره مینه لری او په ارزښت او اهمیت ورته قایل دی، په نظر کی باید ونیول شی چه له مطبوعاتو څخه د ګڼی اخستونکو کسانو ذوق او علاقه په دقیق ډول نشي ټاکل کیدی نو ځکه خو پکار ده چه دهغو معیارونو په اساس چه د خبر ټاکلو لپاره وجود لری او وروسته به ور باندی بحث وشي یوازې هغه

خبرونه د خپریدو لپاره وټاکل شي چه د خلکو د اکثریت لپاره په زړه پورې وی او باید هرو مرو تری خبر شي.

٥- هر اړخیز توب او ټولنیز توب:

هغه په زړه پوری پیښي چه دخبر په حیث وړاندی کیږی باید عمومی حیثیت ولری او د خلکو د اکثریت په ټولنیز ژوند باندی آغیزه وکړي، په دی اساس هغه پیښي چه شته والی او نشتوالی ئی په عمومی وضع کی آغیزه او تغیر را پیدا نکړی او یوازې د یوه سړی یا یوی کورنی یا یوې ډلې لپاره په زړه پوری وی، خبر نه ګڼل کیږی او که کله هم دځینو اشخاصو د شخصي ژوندانه پیښي د خبر په حیث ومنل شي وجه ئی هغه اړیکي دي چه د ډله ایز او عمومی ژوندانه سره ئی پیدا کوی.

له پورتنیو یادونو څخه داسي نتیجه لا سته راځي چه خبریال له هر څه نه وړاندی باید د ټولنیزو مهمو پیښو سره ژوره پیژندګلوی ولری او له خپلو عیني مشاهداتو څخه په کټه اخستلو او د نورو باوری منابعو په استناد د پیښو حقیقي جریان خلکو ته وړاندی کړي او د هغي علتونه، کیفیات او آثار په پوره ډول تشریح کړی چه پدی ډول به د خبر حقیقت، نوښت او په زړه پوری والی چه دخبر مهم صفتونه دی هم مراعات شي.

(نور بیا)

ستاسو پوښتنې د قرآن او سنت په رڼا کې

د ځلوزو له کمیپ څخه زمونږ محترم ورور قاری عبدالستار د دعوت مجلې اداری ته د سلامونو او نیکو پیرزوینو په ترڅ کې پوښتنه کړې چه د پنځه وخت لمونځونو په کومو کومو وختو کې اداء کول پکار دي؟ پداسې حالې کې چه مونږ په اکثرو جوماتونو کې وینو چه لمونځونه په آخرو وختونو کې اداء کیږي، خصوصاً د مازدیگر لمونځ پداسې وخت کې اداء کوي چه لمر په پریوتو وي.

محترم ورور قاری صاحب عبدالستار! په اجمالي توگه له معتبرو او صحیحو آحادیثو او روایاتو نه معلومیږي چه د ماخستن له لمانځه نه پرته نور ټول لمونځونه باید په اول وخت کې اداء شي، دادی په تفصیل سره د هر لمانځه د وخت په هکله ستاسو او د نورو ورونو د معلوماتو لپاره هغه آحادیث او روایات چه له رسول الله ﷺ څخه د هغه د جلیل القدرو صحابه وُ (رضوان الله علیهم اجمعین) په وسیله دحدیثو دمعتبرو امامانو له خوا را نقل شوی لیکو، خو له ټولونه لومړی ددی خبرې یا دول ضروری دی چه په ټولو مسلمانانو باندی دا لازم دی چه بیله کوم شرعي عذر نه د هر وخت لمونځ باید د هماغه وخت په لومړی وخت کې اداء شي. په کومو روایاتو کې چه د لمانځه په اداء کولو کې څه ناڅه تاخیر او وروسته والی راغلي، د هغو مقصد د وخت له داخلیدو څخه دومره وخت وروسته اداء کول پکار دی چه خلك په آرام سره د اودسونو اهتمام وکړای شي او خپل عاجل ضرورتونه او عذرونه رفع کړای شي، نه دا چه لمونځونه دومره وځنډوی چه لمونځ کوونکی ددی لپاره چه څه وخت ډیر دی د غفلت په خوب ویده او د لمانځه وخت ترې فوت شي، مونږ هڅه کوو چه دهر وخت د لمانځه وخت اوفضیلت ئی د حدیث په رانقلولو سره وښایو:

د لمانځه د وختونو په هکله:

په حدیث شریف کی راغلي دی:

عن عبدالله بن عمرو رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ: «وقت الظهر إذا زالت الشمس وكان ظل الرجل كطوله ما لم يحضر العصر، ووقت العصر ما لم تصفر الشمس، ووقت صلاة المغرب ما لم يغيب الشفق، ووقت صلاة العشاء إلى نصف الليل الأوسط ووقت صلاة الصبح من طلوع الفجر مالم تطلع الشمس» (رواه مسلم-ج١-ص ٢٢٣).

ترجمه: عبدالله بن عمرو (رضي الله عنه) وائی چه رسول الله ص فرمایلی دی چه د ماسپښین د لمانځه وخت د لمر له زوال نه پیل کیږی او ترهغې پورې دوام لري څو د سړی سیوری له سړی سره برابر اوږد او مازدیگر شی او د مازدیگر د لمانځه وخت تر هغه وخت پورې دی چه لمر زیړ شی او د ماښام د لمانځه وخت له لمر پریوتو نه د شفق (د ماښام دسرخی) تر غائبیدلو پوری دی او د ماخستن د لمانځه وخت (د ماښام د سرخي له ختمیدو نه) تر نیمی شپې پورې دی او د سهار د لمانځه وخت د صبح صادق له راختو نه تر لمر خاته پورې دی.

١- د سهار د لمانځه په هکله:

د سهار د لمانځه وخت لکه څنگه چه په مخکنی حدیث کی ذکر شول له صبح صادق نه (چه د لمر خاته خواته د آسمان په کناروکي له سپینوالی څخه عبارت دی) تر لمر ختو پورې دوام لری. د سهار د لمانځه اداء کول په اول وخت بهتر دی، لکه چه په حدیث شریف کی راغلی:

«عن عايشة (رضي الله عنها) قالت كان رسول الله ﷺ يصلي الصبح فتنصرف النساء متلفعات بمروطهن ما يعرفن من الغلس (متفق عليه - منتفي الأخبار ص ٤٠/)

ترجمه : عایشة (رضي الله عنها) وائی چه رسول الله ﷺ به د سهار لمونځ اداء کړ نو ښځی به بیرته خپلو کورونو ته ستنیدلې، پداسی حال کی چه په خپلو څادرونو کی به ئی ځانونه پیچلی وو او د صبا د تیاری له کبله به نه پیژندل کیدلې.

د سهار د لمانځه په هکله په یوه روایت کی راځی چه که له سړی نه کوم وخت احیاناً د خوب او غفلت له کبله د سهار لمونځ پاتی شی، نو تر غرمی پوری ئی اداء کولای شی، لکه چه په حدیث شریف کی راغلی دی:

«عن انس (رضي الله عنه) قال قال رسول الله ﷺ : «من نسى صلاة او نام عنها فكفارتها ان يصليها إذا ذكرها وفي رواية لا كفارة لها إلا ذلك» (متفق عليه- مشكوة-ج١-ص ٦١)

ترجمه: انس رضي الله عنه وائي چه رسول الله ﷺ وفرمایل چه که له چانه لمونځ هیر شو او یا د

لمانځه په وخت کې ویده پاتې شو نو د هغه بدله دا ده چه کله لمونځ وریاد شي او یا ویښ شي، دغه فوت شوی لمونځ دی اداء کړي، په بل روایت کې راځي چه ددی لمونځ بدله بل څه نده بیله دغه لمونځ څخه.

۲- د ماسپښین د لمانځه په هکله:

د لمانځه د وختونو له حدیث نه معلومیږي چه د ماسپښین دلمانځه وخت د لمر له زوال نه پیل او تر هغه وخت پوري دوام لري چه د کوم شي سیوري له هماغه شي سره برابر شي، پدی هکله د ځینو علماؤ نظر دادی چه د ما سپښین لمونځ خصوصاً په اوړي کې هغه وخت بهتر دی چه هوا سړه او تودوښي کمه شي، ځکه چه په حدیث شریف راځي:

«عن ابي هريرة (رضي الله عنه) قال قال رسول الله ﷺ إذا اشتدَّ الحر فابردوا بالصلاة» (رواه البخاري ومسلم).

ترجمه: ابو هريرة (رضي الله عنه) وائي چه رسول الله ﷺ فرمايلي دی چه کله گرمی زیاته وی، نو لمونځ لږ وروسته کړئ.

تشریح: ددی حدیث مقصد دادی چه د ماسپښین لمونځ لکه څنګه چه په یو حدیث شریف کې چه د بخاری په روایت راغلی د «ظهر» لفظ راغلی دی، نو ښه داده چه په ژمی کې د ماسپښین لمونځ په اول وخت کې او په اوړی کې په وسط وخت کې اداء شی یعنی دا چه کله سیوری لږ ډیر اوږد شي ځکه که لدی حدیث نه د ځمکی د یخوالی مراد واخیستل شی، نو په اوړی کې خو ځمکه تر لمر پریوتو پوري هم نه سړیږي، په یو بل حدیث شریف کې راځي چه: «عن ابي برزة، الاسلمی (رضي الله عنه) قال كان رسول الله ﷺ يصلى الهجيرة التي تدعونها الأولى حين تدحض الشمس» (متفق عليه)

ترجمه: ابو برزة اسلمی (رضي الله عنه) وائی چه رسول الله ﷺ به د هغي غرمي لمونځ اداء کاوه چه تاسو ورته اول وخت وائی په هغه وخت کې چه کله به لمر تاو شو.

همدا رنگه په بل حدیث کې فرمائی: «عن جابر (رضي الله عنه) قال كان رسول الله ﷺ يصلي الظهر بالهاجرة» (متفق عليه).

ترجمه: جابر (رضي الله عنه) وائی چه نبي کریم ﷺ به د ماسپښین لمونځ په غرمه کې اداء کاوه.

همدا رنګه د «ابراد الظهر» د حدیث په هکله د «اثار السنن» مؤلف علامه نیموی چه پخپله حنفی دی د احنافو علماؤ ددی دریځ په هکله داسی لیکی: «استدل الحنفية بهذه الأحاديث على أن وقت الظهر لا ينقضى بعد المثل بل يبقى بعده وقتة ازيد من وقت العصر وفي الاستدلال بها ابحاث و إني لم اجد حديثاً صريحاً ولا ضعيفاً يدل على أن وقت الظهر الى أن يصير الظل مثليه» (آثار السنن- ص ٤٣).

ترجمه: لدی حدیثونو نه حنفیانو دا دلیل نیولی چه د ماسپښین د لمانځه وخت له یو چند سیوری نه وروسته نه ختمیږی او دا د مازدیگر له وخت نه زیات دی، خو پدی دلیل نیولو کی بحثونه دی او ما یو حدیث هم داسی ونه مونده چه پدی مسئله کی بالکل ښکاره وی- که هغه صحیح وی او که ضعیف، چه په هغه کی دا بیان وی چه د ماسپښین د لمانځه وخت د سیوری تر دو چندی پوری دی.

پټه دی پاتی نه وی چه پخپله علامه نیموی (رحمه الله) لدی اقرار نه وروسته هم د یو چند سیوری په حدیث باندی عمل نه کوی.

همدا رنگه علامه ثناء الله پانی پتی چه یو حنفی عالم دئ پدي هکله لیکی: «واما آخر وقت الظهر فلم یوجد في حدیث صحیح او إلا ضعیف إنه یبقی بعد ظل کل شيء مثله» (ابکار السنن – ص ۷۷)

ترجمه: په یو صحیح یا ضعیف حدیث کی دا خبره نشته چه د ماسپښین وخت د یو چند سیوری نه پس پاتی کیږي (فجزاه الله خیراً پدی تصریح سره) لدی کبله علامه پانی پتی پدی مسئله کی له احنافو سره مخالف دی، دا مسئله خو د کنز ملایانو ته هم معلومه ده چه پدي مسئله کی امام ابو یوسف او امام محمد (رحمهم الله) هم د امام ابو حنیفه (رحمه الله) تابعداری نده کړی او ویلی ئی دی چه کله سیوری یو چند شي، نو د ماسپښین وخت ختم شي.

۳- د مازدیگر د لمونځ په هکله:

د مازدیگر لمونځ هم د نورو وختونو د لمونځونو په شان په اول وخت اداء کول پکار دی او د مازدیگر د لمانځه وخت له ماسپښین نه وروسته پیل کیږی او تر لمر پریوتو د مخه یعني زیړی لمر پوري دوام لری، په حدیث شریف کی راغلی دئ.

«في روایة بریدة (رضي الله عنه) أنه ﷺ أقام العصر والشمس مرتفعة بیضاء نقیّة» (رواه مسلم- ج ۱- ص ۲۲۳ او مشکوة ص ۱۵۹).

ترجمه: د بریدة رضي الله عنه په روایت کی دی چه رسول الله ﷺ د مازدیگر لمونځ اداء کړ پداسی حال کی چه لمر اوچت، سپین او پاک وو.

همدا رنگه په بل حدیث کی راغلی دی چه: «وعن رافع بن خدیج قال کنا نصلي العصر مع رسول الله ﷺ ثم ینحر الجزور فتقسم عشر قسم ثم تطبخ تاکل لحماً نضیجاً قبل مغیب الشمس» (رواه البخاری ومسلم – مشکوة صـ ۶۰- ج اول).

ترجمه: رافع بن خدیج (رضي الله عنه) وائی: چه مونږ به له رسول الله ﷺ سره د مازدیگر لمونځ اداء کړ، بیا به اوښ حلال کړی شو، بیا به لس ځایه تقسیم کړای شو، بیا به پوخ کړای شو، نو مونږ به وخوړه پخه غوښه له لمر پریوتونه وړاندی.

په يو بل حديث شريف کی راځي چه: «عن انس (رضي الله عنه) قال كان رسول الله ﷺ يصلي العصر والشمس مرتفعة حية فيذهب الذاهب الى العوالى فيأتيهم والشمس مرتفعة وبعض العوالى من المدينة على أربعة اميال او نحوه» (رواه البخاري و مسلم ومشكوة ج۱ص ۱۰)

ترجمه: انس (رضي الله عنه) وائی چه رسول الله ﷺ به د مازديگر لمونځ اداء کړ، لمر به اوچت او ژوندی ؤ، او يو تلونکی به چه عوالی ته روان ؤ، عوالی ته به ورسيده او لمر به اوچت ؤ چه د عوالی ځينی برخی له مدينی نه تقريباً څلور شرعي ميله ليرې وې.

له پورتنيو ټولو رواياتو څخه دا معلومه شوه چه رسول الله ﷺ او د هغه خوږو صحابه ؤ د مازديگر لمونځ په اول وخت کی اداء کاوه او دا ارشاد ئی فرمايه چه د منافقانو له لمانځه ځخه ځان وساتی، ځکه چه د منافق له خواصونه يو خاصيت دا وی چه لمر به پريوزی او دی به ورته ټپي ټپي گوری او لمونځ به نه کوي، لکه چه په يو حديث شريف کی راغلی دی:

«عن انس (رضي الله عنه) قال قال رسول الله ﷺ تلك صلوة المنافق يجلس يرقب الشمس حتى إذا اصفرت وكانت بين قرني الشيطان قام فنقر أربعاً لا يذكر الله فيها إلا قليلا» (رواه مسلم - ج ۱- ص ۲۲۵)

ترجمه: انس (رضي الله عنه) وائی چه رسول الله ﷺ فرمايلی دی چه دغه د منافق لمونځ دی چه ناست وی او د لمر انتظار کوی تر دی چه کله لمر زير او د شيطان ددواړو ښکرو تر منځ واقع شی نو بيا پاڅيږی او څلور ټونگی ووهی، الله پاك نه يادوی مگر لږ.

الله پاك دی مونږ او تاسی ددی حديث له مصداق نه وژغوری.

٤- دماښام د لمانځه په هکله:

له مخکی حديث څخه معلوميږی چه د ماښام د لمانځه وخت له لمر پريوتو نه دشفق (قبلی لور ته د سوروالی) تر غايبيدلو پوری، د ماښام لمونځ هم د نورو لمونځونو په څير په اول وخت اداء کول پکار دی، په جديث شريف کی راځی چه : «عن رافع بن خديج (رضي الله عنه) قال كنا نصلي المغرب مع رسول الله ﷺ فينصرف احدنا و إنه ليبصرا مواقع نبلة» (متفق عليه - مشكوة ص ۱٦۰).

ترجمه: رافع بن خديج (رضي الله عنه) وائی چه مونږ به د ماښام لمونځ له رسول الله ﷺ سره اداء کړ، نو مونږ کی به چه څوك واپس شو، نو د خپل غشي ويشتو ځای به ئی ليده.

همدا رنگه په بل حديث شريف کی راغلی دی: «عن ابي ايوب (رضي الله عنه) قال قال رسول الله ﷺ: «لا تزال أمتي بخير وقال على الفطرة ما لم يؤخر والمغرب إلى أن تشتبك النجوم» (رواه ابوداود - ج ۱- ص ٦۰)

ابو ایوب (رضي الله عنه) وائی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه زما امت به همیشه په خیر وی او وئی فرمایل چه همیشه به په فطرت وی څو پوری چه وروسته نکړی د ماښام لمونځ تر هغه پوری چه ستوری ګڼ شی.

زمونږ لمونځونه خو نن صبا اکثر په لنډو سورتونو اداء کیږي پداسی حال کی چه امام ته ښه ډیر سورتونه هم یاد وی، خو په یوه ساه رکعت خلاص کړي او بیا هم چه را ووځي په آسمان کی پوره تیاره خوره شوی وی چه دوه ګزه لیری هم سړی نه پیژندل کیږی، پاتی لا د غشي ویشتو ځاي، الله تعالی دی مونږ ته توفیق عنایت کړی چه د بشریت د لارښود په طریقو عمل وکړو.

٥- د ماخستن د لمانځه په هکله:

د مختلفو آحادیثو او روایاتو نه په ډاګه څرګندیږی چه ټول لمونځونه په اول وخت اداء کول پکار دی پرته د ماخستن له لمانځه څخه، یعنی د ماخستن د لمانځه اداء کول لږ وروسته پکار دی ځکه چه په حدیث شریف کی راځي:

عن ابي هريرة (رضي الله عنه) قال قال رسول الله ﷺ: «لو لا أن أشق على أمتي لأمرتهم أن يؤخروا العشاء الى ثلث الليل او نصفه» (رواه احمد والترمذي وابن ماجه)

ترجمه: ابو هريرة (رضي الله عنه) وائی چه رسول الله ﷺ وفرمایل: که چیري زما په امت سخته نه واي نو ما به دویٔ ته د ما خستن د لمونځ، د شپي په دریمه برخه او یا په نیمه شپه کی حکم کړی ؤ، همدا رنګه په بل حدیث شریف کی راځي چه : « عن عبدالله بن عمر (رضي الله عنهما) عن النبي ﷺ: «وقت العشاء الى نصف الليل» (رواه مسلم- صـ ٢٢٣- جـ ١) وعنه أن النبي ﷺ قال فإذا صليتم العشاء فإنه وقت إلى نصف الليل» (رواه مسلم- ج ١- ٢٢٢) .

ترجمه: عبدالله بن عمر (رضي الله عنهما) له رسول الله ﷺ نه روایت کوی چه د ماخستن د لمانځه وخت تر نیمي شپي پوری دي، او دي وائی چه رسول الله ﷺ وفرمایل چه کله تاسو د ماخستن لمونځ وکړیٔ نو دا وخت تر نیمی شپي پورې دي.

له پورتنیو مبارکو آحادیثو نه معلومه شوه چه بیله عذر نه د ماخستن لمونځ له نیمي شپي نه وروسته کول ندی پکار دي.

(والسلام على من اتبع الهدى)

راغلې ليکونه

له باجوړ ايجنسي څخه د «الجامعة العاليه» مدرسي طالب العلم نور المعبود «حسرت» ورور د پښتو «دعوت» مجلي اداری ته يو زړه پوري ليك راليږلي او داسي ئی ليکلی دی:

دباران د شيبو په شکل خپل پي درپی سلامونه د«دعوت» دمجلی کارکنانو ته وړاندي کوم او وايم چه السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.

وبعد: روغتيا او عافيت مو له رب المتعال څخه غوارم. اولاً دافغانستان دجهاد سالار الشيخ جميل الرحمن شهيد ته د مغفر ت دعا کوم اوثانياً دټولو افغانی رهبرانو داتحاد او اتفاق غوښتنه کوم.

عزتمندو! د«دعوت» مجله مونږ ته وخت په وخت رارسيږی، دهغی په زړه پوری مضامين مطالعه کوو او ګټه تري اخلو، وروڼو! که په مجله کی داسلامي شعرونو برخه زياته شي او لعل-محمد«افسوس» او نورو شاعرانو ته د اسلامي شعرونو دجوړولو او ليکلو وظيفه ورکړل شی څو توحيدي او انقلابي شعرونه وليکي او په مجله کی ئی نشر کړئ ډيره مهرباني به مووی ځکه چه شعرونه په زړه باندی ښه اثر کوی نور مو وخت نه نيسم.

أخوكم في العقيدة السلفية نور المعبود «حسرت»

ځواب: محترم نور المعبود «حسرت» صاحب سلامونو ته مو وعليكم والسلام وايو او دنيکو پيرزوينو مو مننه کوو، ستاسو ليك مو نشر کړ، انشاء الله په پيشنهاد به مو عمل وشي، خوښ اوسئ، والسلام. (اداره)

همدارنګه د ځلوزو له څلورم لمبر کيمپ څخه زمونږ طالب العلم ورور معراج الدين «اوّاب» د پښتو «دعوت» مجلي اداري ته يو ليك راليږلي او داسي ئی ليکلي دي:

محترمو د«دعوت» د مجلي کار کوونکو ورونو!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته؟

وبعد: ورونو زما له «دعوت» مجلي سره ډېره مينه ده خو آرمان دا چه مونږ ته نه رارسيږي، له يو او بل نه په سوال کومه شماره پيدا کړو، خو تنده مو پري نه ماتيږي، نو که دا مجلي ډيري چاپ کړئ او خلکو ته ئی ورسوی، د مينه والو تنده به پري ماته شي، بله دا چه زمونږ دا دريم ليك دي چه مونږ ئی درليږو، خو ځواب ئی نه رارسيږي، هيله ده چه زمونږ ليکونه بي ځوابه پري نږدی او هم که د نوی کال يوه سرميزي کليزه راوليږئ، ډير به خوشحاله شو، نور مو وخت نه نيسم والسلام.

اخوکم في دين الإسلام طالب العلم معراج الدين «اواب».

ځواب: محترم ورور «اواب» صاحب!

سلامونو ته مو وعليکم السلام، دنيکو هيلو مو قدر کوو، ستاسو نور ليکونه مونږ ته ندی رارسيدلی، کنه، ضرور به مو نشر کړی ؤ، خپله قلمی رابطه جاری ساتئ، مجلی به انشاء الله دوروسيږی، خو کليزی مو ندی چاپ کړی، که چاپ ئی کړو حتماً به درته ورسيږی، خوش اوسئ. والسلام. (إداره)

د پلی له کيمپ څخه عبدالبصير مجاهد د«دعوت» د مجلی اداری ته يو ليك راليږلی او داسی ئی ليکلی دی:

د «دعوت» دمجلی کارکوونکو ورونو! السلام عليکم ورحمةالله وبرکاته !

و بعد: يو فرياد ليکم چه زما دضمير آواز دی، هيله ده چه کټ مټ ئی نشر کړئ، هغه دا چه په کابل کښی دمجاهدينو دحکومت نژدې کال پوره کيدونکی دی، خو مونږ دپخوا په څير د پاکستان په دښتو کښی دهجرت شپی سباکوو او پدی هيله يو چه دادی نن يا سبا به له خيره په وطن کښی اسلامی حکومت محکميږی، امنيت به قايميږی، زمونږ دهجرت دسختو شپی به پای ته رسی، خو چه هر څه انتظار کوو، يوه له بلی بدتره راځي، مونږ ټول مسلمانان نا اميده او خواشيني يو، خدای دی نکړی چه په خپل هجرت او جهاد پښيمانه شو، آخر دا د تنظيمونو

مشران ولی د کورنۍ جګړې مخه نه نیسي؟ دوی ولی پدی نه پوهیږي چه ددوئ تر مینځ بی اتفاقي کمونیستانو اچولی ده؟ دوي ولی پدی نه پوهیږي چه کمونیستان په دواړو خواؤ کی تقسیم شوی او د مسلمانانو د جنګولو اراده لري؟

زه خو دا وایم چه که دوئ پدی نه پوهیږي، نو بیا دوئ د رهبري لیاقت هم نلري، دا څنګه رهبری ده چه ددا سی پیښو مخنیوی نه شي کولای، زما په نظر خو د ټولو تنظیمونو مشران ملامت او پدی جګړه کی دخیل دی، ځکه هغوی چه ځانونو ته پدی جګړو کی بي طرفه وائی، دوئ هم بي طرفه ندی، دوئ ته زما مشوره داده چه دوي دې د الهي حکم سره سم ددواړو جګړه مارو ډلو تر منځ د سولي کوشش وکړي، وروسته چه هره خوا له الهي حدودو نه تیري کوی او سوله نه مني، نو ټول دې ورته یو خوا شي او د ظالم د ظلم مخنیوي دی په ګډه وکړي، آخر دا جګړه د چا په ګټه ده؟ ددی جګړی د مشروعیت جواز به څوك ورکړی؟

ورونو، الله شاهد دی چه زه له پاکستانیانو او نورو خلکو څخه شرمیږم، هرې خواته چه دیوی خواری غریبۍ لپاره مخه کوم، هلته را څخه دا پوښتنه کیږی چه آخر تاسو کوئ څه؟ تاسو خو ویل چه روسان دی او کمونستان دي، اوس خو روسان او کمونیستان هم نشته، ولی سره نه جوړیږی؟ سره لدی چه زه هغوي ته دا دلیل وړاندی کوم چه دا شخړی هم د کمونیستانو له لاسه دی، که هم چه ماته دا معلومه ده چه د جګړې د دواړو خواؤ په رأس کی مجاهد مسلمانان واقع دی، خو زه حیران دلته یم چه دوئ ولی د جګړی په ځای خبرو ته نه حاضریږی؟

هیله لرم چه زما دا آواز د «دعوت» د مجلی له لارې ټولو مسلمانانو ته ورسیږی او ټول دی پدی خبره غور وکړی چه دا کمونیستي او یهودی دسیسي دی الله تعالی دی په خپل فضل او کرم سره خنثی کړي. امین

السلام علیکم / أخوکم عبدالبصیر مجاهد

ځواب: محترم ورور عبدالبصیر مجاهد صاحب!

الله تعالی دی مونږ ټولو ته دا توفیق را په برخه کړی چه د سپیڅلی الهي قانون پابندی وکړو، کله چه مو د ژوند ټول کړه وړه د الهي قانون سره سم شول، دي کی هیڅ شك نشته چه الله تعالی به مو توبه قبوله او دا تیاره به را باندی رڼا کړي، خو ښ اوسئ. والسلام

(اداره)

ارشاد نبوی

عن ابي هريرة رضي الله عنه، قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : (ما تعدون الشهداء فيكم؟ قالوا : يا رسول الله من قتل في سبيل الله، فهو شهيد. قال : (إن شهداء أمتي إذاً لقليل!) قالوا : فمن هم يا رسول الله؟ قال :(من قتل في سبيل الله فهو شهيد، ومن مات في سبيل الله فهو شهيد، ومن مات في الطاعون فهو شهيد، ومن مات في البطن فهو شهيد، والغريق شهيد) (رواه مسلم).

ترجمه :

از ابو هريره رضي الله عنه روايت است كه :

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمود: در ميان تان كدام را شهيد مى شماريد؟ گفتند يا رسول الله فقط آنكه در راه خدا كشته شود، شهيد است. فرمود : اگر اينطور باشد پس شهداى امتم كم ميباشند- گفتند پس كيانند يا رسول الله ؟ فرمود: آنكه در راه خدا كشته شود شهيداست وآنكه در راه خدا بميرد شهيد است وآن كه از مرض طاعون بميرد شهيد است وآنكه از مرض اسهال بميرد شهيد است و آنكه غرق شود شهيد است.

از "پیام به رهروانِ سلف صالحین"

- با در نظر داشت شرایط کنونی جهان و وضع اندوهبار مسلمانان ، از همه برادرانِ موحّد و شیفته گانِ قرآن و سُنّت دعوت بعمل می آوریم تا بخاطر غلبهٔ نور بر ظلمت و پیروزي حق بر باطل، کلیه منافع شخصي و گروهي شانرا پشت سر گذاشته با کاروانِ عظیم دعوتِ سلف صالحین متحد شوند.

- هنگامیکه پیروان صدیق سلف صالحین و دعوت گران قرآن و سُنّت در افغانستان به زعامت داهیانه شهید اسلام و امام الجهاد شیخ جمیل الرّحمٰن رحمه الله بر خطه کوچک و محدود ولایت کنر تسلّط یافتند بخاطر قیام یک مجتمع سرتاسری اسلامی اوّلین اقدام تاریخي شان اعلام امارت اسلامي و انفاذ قانون قرآن و سُنّت بود.

- حقیقتِ مُسلم اینست که اسلام تابع مرزهای جغرافیائی نمیباشد.

- اگر به وضع اندوهبار ملل جهان نظر افگنیم ، در خواهیم یافت که انسانیت مظلوم و ستمدیده امروز بیش از هر وقت دیگر آبستن یک انقلاب ناب اسلامی مبنی بر اساساتِ ارفع قرآن و سُنّت میباشد

- شهید مولوی جمیل الرّحمٰن رحمهُ الله نخستین شخصیّت متعهد و مبارزي بود که عَلمِ جهاد مقدس را علیه کفّار متجاوز و مزدوران شان بُلند نموده و کوه هاي سر به فلک کشیده کُنر را بحیث نخستین پایگاه هاي جهاد مقدس اعلام کرد.

- احدی ازین حقیقت چشم نخواهد بست که عصر قیادتِ اهلِ حدیث، دورانِ طلائی تاریخِ اسلام و عروج مسلمانان را تشکیل میدهد.